# د دعوت اصول او آداب


**لیکوال:**

**مولانا نصیب الرحمن علوي**

د کراچي د بنوري ټاون د جامعه العلوم الإسلامیه

فاضل او د بیت العلم د جامعې استاد


**ژباړونکې:**

**ډېوه (همت لور)**

د کتاب نوم: د دعوت اصول او آداب

د کتاب اصلي نوم: أصول دعوت و آداب آن

ليکوال: مولانا نصيب الرحمن علوي

ژباړونکې: ډېوه (همت لور)

موضوع: ښوونې او روزنې (دعوت ، خبرې، ژوند، د خوبونو تعبير، د جشن او د ماتم لمانځنه)

د چاپ شمېر: لومړي (ديجيتال)

د چاپ تاريخ: سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق

سرچينه:

دا کتاب د عقيدې د کتابخانې سايت نه داونلود شوی دی.

**www.aqeedeh.com/pa**

برېښنا ليک: **book@aqeedeh.com**

**د موحدينو ګروپ ويب پاڼو**

www.mowahedin.com
www.aqeedeh.com
www.videofarsi.com
www.islamtxt.com
www.zekr.tv
www.shabnam.cc
www.mowahed.com
www.sadaislam.com

**په عقيدې سايت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسايت د همغږۍ په معنا نه ده.**

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# لیکلړ

**لیکلړ ........................................................................ أ**

**د ژباړونکی خبري.............................................................. ۱**

**د دعوت او تبلیغ ارزښت ............................................... ۵**

د دعوت پرېښوولو وبال........................................ ١٤

د دعوت ښېګڼې او فضایل ...................................... ١٩

د دعوت او تبلیغ آداب ......................................... ٢٥

د داعي فکر او عمل .............................................. ٤٨

د داعي اوصاف.................................................... ٦٠

د امیر او مامرینو لپاره څو آداب.............................. ٧١

په جماعت کي دغو خبرو ته په ځانګړې توګه پاملرنه وکړئ .. ٧٦

**د ژباړني نوري لیکني ........................................ ۸۱**

## قرآني مرغلري

﴿ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ١٢٥﴾ [النحل: ١٢٥].

ژباړه: «خلکو ته د خپل پروردګار (سپېڅلي دين او سمي) لاري ته په حکمت او غوره نصيحت (په داسي مناسب اسلوب سره چي د هر يوه سره وړ او مناسب وي) بلنه ورکړه (چي حق او د خير ښېګڼي چارو ته وهڅيږي او د شر له چارو څخه يې کرکه وسي)، او (که خبره تر بحث مباحثې ورسيږي، نو) د هغو سره بحث هم (د بحث او مباحثې) په ډېرو ښو لارو (په منطق او نرمښت سره) وکړه. (دا د خداى لاري ته د خلکو د دعوت لار ده، نو د هغو سره دغه لار تعقيب کړه او بيا يې ستا خپل رب ته پرېږده، ځکه چي پر تا باندي له رسوني پرته بل مسؤوليت نسته او د دوى هدايت يوازي پر لوى څښتن دى). يقين دى چي ستا رب هغه کسان هم ډېر ښه پېژني چي د هغه له لاري څخه اوښتي دي، او په هغو هم ښه خبر دى چي پر سمه لار روان دي».

## ډالۍ:

هر هغه پوه او رشتیني داعي ته یې په اسلامي مینه سره ډالۍ کوم، چې خپل ځان او ژوند یې دې سپېڅلي دندي ته وقف کړی وي.

**ډېوه (همت لور)**

# د ژباړونکی خبري

الحمد لله جعل الداعي إليه أحسن الناس قولاً، والمجاهد في سبيله من أفضل الناس عملاً، والصلاة والسلام على أعظم من دعا باللسان، وأشجع من جاهد بالسنان، سيدنا ونبينا محمد وعلى آله وصحبه والتابعين لهم بإحسان، أما بعد:

څرګنده خبره ده چې دعوت الی الله ډېره ستره او مهمه دنده ده، همدغه دعوت دی چې د خلکو د لارښوونې او سعادت لا مل ګرځي. د دې اهمیت او سترتوب له دې څخه څرګندیږي چې دا د ټولو پیغمبرانو، په هغو کې دخاتم الانبیاء حضرت محمد مصطفیﷺ سپېڅلې دنده وه او بیا هم دغه دنده د هغه د لارې لارویانو تر نن مهاله پر مخ بېولې ده او تر الی ماشاء الله پورې به یې بیا هم پر مخ بیایي.

البته په دې کې هم شک نسته چې په اوسمهال کې اسلامي دعوت او تبلیغ ته تر پخوا ډېره اړتیا ده. په دې هکله اوږدو خبرو ته حاجت نسته.خو له بده مرغه په اوسمهال کې د مسلمانانو لخوا، په تېره زموږ افغانانو لخوا دغه دنده لکه څنګه چې ښایي هغسې پر مخ نه بیول کیږي. او که ځینو د دغې ډېرې مهمې اسلامي فریضې تر سره کولو ته ملا هم تړلې ده، خو له ځینو څخه یې د دې دندې د اصولو

او آدابو په هکله د بشپړو معلوماتو د نه درلودلو له امله زیاتي جدي تېروتني کیږي، مثلاً ځیني دعوت کوونکي یا دې چارو ته منسوب کسان د دعوت او تبلیغ په اړه د جهل له امله، ځیني له اسلام او دعوت څخه د ناسم فهم له امله، ځیني له دې مقدس دیانت څخه د ناسم تعبیر له امله او ځیني هم د دعوت په چاره کي له شدت او سخت دریځ څخه د کار اخیستلو له امله، د دې سپېڅلي او ډېري مهمي او اړیني دندي حق لکه څنګه چي ښایي هغسي نه دی ادا کړی، بلکي ان د ګټي پر ځای یې کله کله تاوان هم رسولی دی. د دې لامل دادی چي دغسي زیات دعوت کوونکي اصلاً د دعوت له اصولو او آدابو څخه ناخبره دي. د دې ستونزي د اواري یوازنۍ لار داده چي ټول مسلمان دعوت کوونکي او مبلغین لومړی د دعوت اصول، آداب او سمي او اغېزناکي لاري چاري زده کړي او بل هم خپل ځانونه په اسلامي علومو او دیني احکامو ښه سمبال کړي، او تر څنګ یې د مهال په نبض او غوښتنه هم پوه سي.

له نېکه مرغه یو وخت زه د ښوونځي په لسم ټولګي کي وم چي د «تعلیم وتعلم اور دعوت کي اسلامي اصول وآداب» په نامه کتاب چي دکراچي د بیت العلم د جامعې یوه پیاوړي استاد مولانا نصیب الرحمن علوي لیکلی دی، زما پلار ماته راوړ او ماته یې د هغه د مطالعې لارښوونه وکړه، کله چي ما هغه ولوست، نو څنګه چي د

زده کړي او ښووني او اسلامي تبليغ او بلني د اصولو او آدابو په باب ډېر ګټور او په عين حال کي لنډ کتاب راته ښکاره سو، نو مي وژباړی او بيا مي د هغه لومړی برخه د بېل کتاب په بڼه د «زده کړي او ښووني آداب» په نامه خپور کړ او د هغه دوهمه برخه مي چي د دعوت او تبليغ په اړه وه، د بېل کتاب په بڼه ترتيب کړه، خو سمدستي د چاپ په ګڼه سمبال نه سوه. اوس چي ماته په کابل کي د سلام د لوړو زده کړو د پوهنتون د شرعياتو د پوهنځي د اسلامي تعليماتو په څانګه کي د تحصيل وياړ راپه برخه سوی دی، او موږ ته د نورو مضمونونو تر څنګ د «اصول دعوت» په نامه مضمون هم تدريسيږي، نو د دې سپېڅلي دندي ارزښت او اړتيا نوره هم راته څرګنده سوه او هغه هم د وخت او مهال د غوښتنو سره سم په اصولي او زښته زياته غوره او احسنه طريقه.

څکه نو ما وپتېيل چي زما په ګران هيواد کي د دعوت د قافلې د درنو لارويانو سره د لاري د توښې او مرستي لپاره دغه کتاب خپور کړم. هيله ده دغه کتاب زموږ پر وياړلو مسلمانو داعيانو سربېره د عامو مسلمانانو او د هيواد د پوهنتونونو او نورو مدرسو او فرهنګي موسسو، په تېره د شرعياتو او اسلامي علومو د محصلينو د مطالعې لپاره يو مرستندوی کتاب سي.

باید یادونه وکړم چې ځنګه چې په لسم ټولګي کې زما ادبیات دونه قوي نه وه، یعنی د کتاب په ژباړلو کې ځای ځای تېروتنې را څخه سوي وې او اوس مې هم په زده کړو د بوختیا له امله دونه وخت نه درلود چې کتاب له سره تصحیح کړم، نو زما ګران پلار استاد عبدالمالک «همت» چې د ډېرو کتابونو او مقالو لیکوال او ژباړن دی، د هغې مینې او تعهد له مخې چې د اسلام او د هغه د ننګې او خپرېدو سره یې لري، دغه کتاب تصحیح کړ. زه دعا ورته کوم چې څښتن تعالی دې څو شپې زموږ له سره نه اخلي، او په دواړو نړیو کې دې سر لوړی ولري. دغه راز دې خدای تعالی زما دا کوچنی زیار په خپل ستر دربار کې قبول کړي او ماته دې د خپل سپېڅلي دین د خدمت زیات توفیق راپه برخه کړي، آمین.

**د اسلام او مسلمانانو خدمتګاره**

**ډېوه (همت لور)**

**همت ټاټوبی، کابل**

**د ماښام ۵:۲۰ بجې**

**٤ /۱۳۸۹/۸ل.**

# د دعوت او تبلیغ ارزښت

د دعوت او تبلیغ سرلیک کوم نوی سرلیک نه دی، بلکې لوی څښتنﷻ چې هرڅونه پیغمبرانعليهم السلام انسانانو ته رالیږلي دي د هغو ټولو موخه همدغه بلنه او تبلیغ وو. ترکومه مهاله چې په نړۍ کې د انبیاووعليهم السلام د راتلو لړۍ روانه وه، خدایﷻ دا کار هغو ته سپارلی وو. بیا دې نړۍ ته زموږ ویاړلي پیغمبرﷺ د خاتم النبین په توګه تشریف راوړ او د خپل نبوت په درویشت کلن دور کې یې دا کار په بشپړه توګه ترسره کړ.

له دې نړۍ څخه د هغه مبارکﷺ تر رخصتېدو وروسته دا کار مسلمان امت ته د رسول اللهﷺ د امتي توب له برکته سپارلی سوی دی. صحابهٔ کرامو او دیني عالمانو دغه دنده په ډېره ښه توګه سرته ورسول. خو څنګه چې وروسته په مسلمانانو کې کمزوري رامنځته سوه، نو د مسلمانانو له ژوندانه څخه دا کار کرار کرار مخ پر له منځه تلو سو. که څه هم الحمد لله په هر دور کې یوې ډلې دغه دنده پر مخ بېول، خو د مسلمانانو د شمېر په پرتله د دغو بلونکو او تبلیغ کوونکو شمېر لږ وو. په دې ډول د مسلمانانو په ټولنیز ژوند کې د دې کار د کمښت له امله هغوی کمزوري سول او کفارو پر مسلمانانو باندې داسې ولکه او غلبه تر لاسه کړه چې له دوی څخه یې خپل هویت او پېژندګلوي هم هېره کړه او اوس دادی داسې یو حالت رامنځته سوی دی چې ډېر یې یوازې په نامه مسلمانان پاته

سوي دي. دا خبري شيخ الحديث حضرت مولانا محمد زكريا كاندهلوي﵀ په ښه وضاحت سره په دې ډول ليكلي دي:

«نن ورځ د دين كمزوري دونه مخ پر ډېرېدو ده، چي پر هغه باندي د كفارو له لوري دونه بريدونه، نه كيږي لكه په خپله د مسلمانانو لخوا چي كيږي. اوس نه داچي عام مسلمانان په فرايضو او واجباتو عمل نه كوي، بلكي پر دې چارو عمل كول له خاصو او اخص الخواصو مسلمانانو څخه هم مخ پر پاته كېدو روان دی. لمونځ او روژه پرېښوول خو لا څه كوې، نن ورځ په لكونو انسانان په ښكاره په كفر او شرك بوخت دي. بده يې لا دا چي دوی هغه كفر او شرك هم نه ګڼي. دا چي د محرماتو او فسق او فساد خپرېدل په څونه ځرګند ډول روان دي؟! او د دين سره بې پروايي، بلكي د هغه سپكاوی او ملنډي په وهل څونه عاميږي؟! دا هرچا ته ځرګند دي. دغه لامل دی چي د خاصو، بلكي د عامو علماوو له خلكو څخه ګوښه والی او كركه زياتيږي. د دې ناوړه حالت ځرګنده اغېزه داده چي له دين او ديني چارو څخه پرديتوب ورځ تر بلي زياتيږي. عوام خپل ځانونه په دې معذور ګڼي چي داسي څوک نسته چي دوی ته ديني لارښووني وكړي. او عالمان بيا په دې خپل ځانونه معذور ګڼي چي د دوی د خبرو اورېدونكي نسته. خو د لوی څښتنﷻ په وړاندي به د عوامو دا عذر پر ځای نه وي چي ووايي چا د دين په هكله څه نه وه راته ويلي. ځكه چي د ديني امورو په هكله معلومات ترلاسه كول او د هغو په هكله څېړنه د هر وګړي لپاره فرض باله سي. له قانون څخه د بې خبری عذر په هيڅ حكومت كي د منلو وړ نه دی. نو د احكم الحاكمين خدایﷻ په وړاندي به دا پوچ عذر څنګه د

منلو وړ وي؟! دا خو «عذر بد تر از گناه» سو. دغه راز دا جواب د علماوو لپاره هم مناسب نه دی چي ووايي زموږ د خبرو اورېدونکي نه وه.

د کومو اولنو (اسلافو) د نیابت او ځای ناستي توب دعوه چي تاسي ښاغلي کوئ، نو آیا هغو د تبلیغ لپاره څه شي نه وه چي ویې نه زغمل؟ آیا د ډېرو وارونه، نه دي پر سوي؟ ښکنځل او بد رد یې نه دي اورېدلي؟ ډول ډول کړاوونه او ستونزي یې پرځانونو نه وې ګاللي؟ خو د دې ټولو سره سره یې خپلي تبلیغي دندي پر مخ بېولې او د اسلام سپېڅلی دین یې تر خلکو رساوه. د هر ډول سختو مزاحمتونو باوجود یې په ډېري مهربانۍ او لورېیني سره اسلام او د اسلام احکام خپاره کړي دي».

حضرت مولانا محمد زکریا رحمه الله وړاندي لیکلي:

«په عامه توګه مسلمانان د تبلیغ چاري د علماوو د غاړي فرض ګڼي، یعنی دعوت او تبلیغ د علماوو کار ګڼي او په دې ګومان دي چي تل باید عالمان تبلیغ وکړي. په داسي حال کي چي دا خبره سمه نه ده. د هر چا په مخکي چي کوم ناوړه او منکر کار تر سره کېږي او هغه یې د مخنیوي وس ولري یا د هغه د مخنیوي اسباب پیدا کولای سي، نو په دې صورت کي پر هغه واجب ده چي د هغه ناوړه کار مخه ونیسي. او که فرضاً دا د عالمانو کار وبلل سي، نو که عالمان د سستۍ یا کومي مجبورۍ له امله د دې چاري حق پوره نه ادا کوي یا یې نه سي ادا کولای، نو پر هر وګړي باندي لازمه ده چي دا کار د ځان فرض وګڼي».

په قرآن کریم او نبوي احادیثو کي چي په څونه پام او اهتمام سره د تبلیغ او امر بالمعروف او نهی عن المنکر په هکله ارشادات فرمایل سوي دي، هغه د هغو آیتونو او احادیثو څخه څرګندیږي چي په راتلونکو پاڼو کي به راسي. په دغسي حالت کي، یوازي د عالمانو پر غاړه د دې کار په اچولو سره یا د هغو د کمزورۍ په وړاندي کولو سره، هیڅوک له مسؤولیته نه سي ژغورل کېدلای. له دې امله په عاجزي او درناوي سره هیله کوو چي هر مسلمان په دې نازک وخت کي په اسلامي بلنه او تبلیغ کي څه نا څه برخه واخلي او هر څونه وخت چي د دین په تبلیغ او ساتنه کي تېرولای سي باید تېر یې کړي.

په دې باندي هم باید پوه سئ چي د تبلیغ کولو لپاره یا د امر بالمعروف او نهی عن المنکر لپاره لوی یا بشپړ عالم کېدل اړین نه بلل کیږي، بلکي هر څوک چي په کومه مسئله باندي پوهیږي هغه باید تر نورو پوري ورسوي او کله چي د ده په مخ کي کوم ناجایز کار تر سره کیږي او دی د هغه کار پر منع کولو او بدلون ورکولو باندي قادر وي، نو د هغه کار مخنیوی پر ده باندي واجب دی.

خدایﷻ دي موږ ټولو ته پر دې چارو باندي د عمل کولو توفیق راکړي، آمین.

راځئ اوس یو ځل هغو آیتونو او احادیثو ته پام واړووچي خدایﷻ او د هغه استازي حضرت محمد مصطفیﷺ په هغو کي د دعوت اوتبلیغ ارزښت بیان کړي دي.

1- لوی څښتنﷻ فرمایلي دي:

﴿ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ﴾ [النحل:۱۲۵].

ژباړه: «اى محمده! خلک د خپل رب لاري ته (يعني د اسلام سپيڅلي دين ته) په حکمت (په پر ځاى او ښکلو خبرو) او نېکو او غورو نصيحتونو سره وبوله او (که د مجادلې اړتيا وي)، نو د هغو سره په داسي ډول خبري او مباحثه وکړه چي ډېره غوره وي».

په پورتني آيت کي چي د کوم کار کولو حکم ورکړه سوى دى، هغه د خداىﷻ د دين لوري ته د بلني او دعوت په باب دي.

2- بل ځاى لوى څښتنﷻ فرمايلي دي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ﴾ [التحريم:٦].

ژباړه: «اى مومنانو! خپل ځانونه او خپل اولادونه او کورنۍ د دوږخ له هغه اور څخه وژغورئ چي د سون مواد يې انسانان او ډبري دي».

(خپل ځان له اور څخه ژغورل پخپله اطاعت کول دي، او خپله کورنۍ له اور څخه ژغورل، هغو ته د خداى احکام ورزده کول دي او هغوى پر هغو باندي د عمل کولو په هکله د امکان په کچه په ژبه يا په لاس پوهول دى).

له دې څخه دا څرګنديږي چي خپلي کورنۍ ته تبليغ کول او د ګناهونو څخه د هغو ژغورل فرض دي.

3- يو بل ځاى د لوى څښتنﷻ ارشاد دى:

﴿وَذَكِّرۡ فَإِنَّ ٱلذِّكۡرَىٰ تَنفَعُ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٥٥﴾ [الذاريات: ٥٥].

ژباړه: «او البته نصيحت کوه (هغوى پوهوه)، ځکه چي نصيحت (او پوهه) مومنانو ته ګټه رسوي».

(په تفسير الميسر کي د دغه آيت په تفسير کي داسي وايي: يعني اى پيغمبره! له کفارو څخه د مخ اړوني او اعراض، او د دوى ناوړو

کړنو ته د پام نه کولو سره سره، بیا هم دعوت الی الله ته دوام ورکړه او نصیحت ورته وکړه، ځکه چي له پند او نصیحت څخه د مومنو زړونو خاوندان ګټه اخلي او په هغه کي منکرانو ته دلایل وړاندي کول او ښوول دي. ژباړنه).

مفسرینو لیکلي دي چي د پورتني آیت موخه داده چي د قرآن پاك د آیتونو په اورولو سره نصیحت وکړئ. د مومنانو لپاره خو د نصیحت ګټه ښکاره خبره ده، کفارو ته هم ګټه رسوي. ځکه کېدای سي چي هغوی هم ان شاء الله د نصیحت له امله د مومنانو سره یو ځای سي.

4- یو بل ځای لوی څښتنﷻ فرمایلي دي:

﴿وَأۡمُرۡ أَهۡلَكَ بِٱلصَّلَوٰةِ وَٱصۡطَبِرۡ عَلَيۡهَاۖ لَا نَسۡـَٔلُكَ رِزۡقٗاۖ نَّحۡنُ نَرۡزُقُكَۗ وَٱلۡعَٰقِبَةُ لِلتَّقۡوَىٰ ١٣٢﴾ [طه: ۱۳۲].

ژباړه: «خپلي کورنۍ (خپلو اړوندو کسانو یا ګردو مسلمانانو) ته د لمانځه توصیه (او امر) وکړه او په خپله هم د هغه پابنده اوسه. (یعني دغه چاري د زیاتي پاملرني وړ دي).موږ له تاسي (او له نورو) څخه کومه روزي (شته یا معاش) نه غواړو (چي د اړینو طاعتونو مانع سي)، بلکي روزي خو موږ تا (او نورو) ته درکوو او عاقبت (ښه برخلیک په دنیا او آخرت کي د پرهېزګارانو او) پرهېزګارۍ دی».

دغه لامل دی چي په بېلو بېلو روایتونو کي راغلي دي چي کله به رسول اللهﷺ د یو چا د تنګلاسۍ د لیري کولو په هکله فکر جن سو، نو هغه ته به یې پر لمانځه د پابندۍ په هکله ټینګار کاوه. او پورتنی آیت به یې تلاوت کاوه او دې ته به یې اشاره کول چي ګواکي د رزق د ډېروالي وعده د لمانځه پرکولو او پابندۍباندي موقوفه ده.

5- يو بل ځاى لوى څښتنﷻ فرمايلي دي:

﴿وَلۡتَكُن مِّنكُمۡ أُمَّةٞ يَدۡعُونَ إِلَى ٱلۡخَيۡرِ وَيَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُفۡلِحُونَ ١٠٤﴾ [آل عمران: ١٠٤].

ژباړه: «(اى مسلمانانو!) په تاسي کي بايد څه خلك هرومرو داسي وي چي د نېکۍ لوري ته بلنه وکړي، په ښو امر وکړي او له بدو منع وکړي. کوم خلك چي دا کار وکړي هغوى به برياليي سي».

په پورتني آيت شريف کي لوى څښتنﷻ د يوه ډېر مهم مضمون حکم فرمايلى دى، او هغه دا چي په امت کي بايد يوه داسي ډله ځانګړې وي چي خلك د اسلام لوري ته وبولي او خپله هم پر سمه لار روان او ټينګ واوسي او نورو ته هم دسمي لاري دښوولو هڅي وکړي.

معنا دا چي عامو مسلمانانو ته تبليغ، يعني امر بالمعروف او نهى المنکر فرض کفايي دى.

6- نورو ته حتى الوسع امر بالمعروف او نهى عن المنکر اړين دى. که نه نو د ګناهونو دخپرېدو له امله چي کوم عذاب، وبال يا مصيبت او داسي نور راځي هغه يوازي پر ګناه کارانو باندي نه نازلېږي، بلکي پر ټولو باندي نازلېږي. په دې هکله لوى څښتنﷻ فرمايلي دي:

﴿وَٱتَّقُواْ فِتۡنَةٗ لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمۡ خَآصَّةٗۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ ٢٥﴾ [الأنفال: ٢٥].

ژباړه: «خپل ځانونه له هغي فتنې (بلا او مصيبت) څخه وژغورئ (او ځني وبېرېږئ) چي د هغې ناوړه اغېزه په ځانګړې توګه يوازي له تاسي

ځخه په هغو خلکو پوري محدوده نه پاته کيږي چي ظلم (ګناه) کوي او وپوهيږئ چي الله سخت سزا ورکوونکی دی».

حضرت حکيم الامت مولانا اشرف علي تهانوي‌رحمه‌الله د دې آيت په تشريح کي فرمايي:

«لکه څنګه چي پر تاسي باندي د ځان د اصلاح کولو په اړه طاعت واجب دی، همدغسي دا هم واجب طاعت دی. چي تر خپله وسه د نورو د اصلاح لپاره د امر بالمعروف او نهی عن المنکر له لاري په لاس، يا په ژبه، يا د ناستي ولاړي په پرېښولو يا په زړه کي په بد وړلو سره - چي دا نوتر ټولو وروستۍ درجه ده - هڅه وکړئ. که نه نو د غوړمالۍ په صورت کي د هغو منکراتو او ناوړو چارو وبال او عذاب، لکه چي د منکراتو پر تر سره کوونکو باندي واقع کيږي، همدغسي يو ډول لا نه يو ډول عذاب پر غوړمالانو باندي هم نازليږي».

7- په دې هکله رسول الله‌ﷺ فرمايلي دي:

عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم يَقُولُ: «مَنْ رَأَى مِنْكُمْ مُنْكَرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْعَفُ الإِيمَانِ» (رواه مسلم والترمذی و ابن ماجته و النسايي)

ژباړه: حضرت ابوسعيد خدري‌رضي‌الله‌عنه وايي: ما له رسول الله‌ﷺ څخه واورېدل چي ويې فرمايل: «که له تاسي څخه څوك کوم ناوړه کار ووينې که يې وس درلود چي هغه په لاس له منځه يو سي، نو دې په لاس له منځه يوسي. که يې د دې وس نه درلود، نو دې په ژبه، په غندلو او ناوړه کار بللو سره د له منځه وړلو هڅه وکړي.خو که د دې

وس هم نه لري، نو په زړه کي دي له هغه کار څخه بد يوسي، البته دا د ايمان ډېره کمزورې درجه ده».

په يوه بل حديث مبارک کي رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

«که څوک په ژبه د ناوړه کار د منع کولو وس ولري، نو په ژبه سره دي هغه منع کړي، که نه نو په زړه کي دې بد وګڼي. په دې صورت کي هم هغه بري الذمه دی».

په يوه بل حديث کي يې فرمايلي دي:

«هغه څوک چي ناوړه کار په زړه کي بد وګڼي هغه هم مومن دی، مګر دا د ايمان ډېره کمزورې درجه ده».

په دې ډول ډېر آيتونه او احاديث سته چي په هغه کي د دعوت او تبليغ ښېګڼي او ارزښتونه بيان سوي دي.دلته موږ د لنډون لپاره پر دغو آيتونو او احاديثو بسنه کوو. له دې آيتونو او حديثونو څخه دا خبره په بشپړه توګه واضح سوه چي د خپلي کورنۍ غړو او تر لاس لاندي کسانو ته تبليغ فرض عين، او عامو مسلمانانو ته تبليغ کول، يعنی امر بالمعروف او نهی المنکر فرض کفايي دی.ځکه نو هر نارينه او ښځينه مسلمان ته ښايي چي په دې هکله فکر وکړي. په کورکي خپلي مېرمني، کوچنيانو او داسي نورو ته

د لمانځه، روژې او د نورو فرايضو د ادا کولو حکم وکړي.او د خدایﷻ له نافرمانۍ او سرغړوني څخه ځانونه وژغوري. همدا راز له کور څخه دباندي خپلو ملګرو او هغو کسانو ته چي ناسته ولاړه ورسره لري هم ديني بلنه او تبليغ وکړئ او تل په دې هکله فکر وکړي چي د رسول اللهﷺ امت څنګه د ده پر راوړه سوي دين باندي عمل وکړي. ښځي دي په کور دننه کي خپلو ملګرو، ګاونډيانو او

خپلوانو ته د دین او دیني او اسلامي اوامرو د سم او ښه تر سره کولو دعوت ورکوي او هڅه دي وکړي چې خپل اولاد داسي وروزي چې په راتلونکي کي د اللهﷻ د دین داعي او مجاهد سي او د رسول اللهﷺ په امت کي د یوه نیك او پرهیز ګار انسان په څیر څرګند سي، او امت ته یو صحیح لارښود او قاید جوړ سي. خدایﷻ دي موږ ټولو ته د دې چارو د ډېر ښه تر سره کولو توفیق راکړي آمین.

## د دعوت پرېښوولو وبال

څنګه چې دعوت او تبلیغ ډېر ستر ارزښت او اهمیت لري، ځکه نو د هغه پر پرېښوولو او نه کولو باندي ډېر ستر وعیدونه وارد سوي دي. په آخرت کي خو لوی څښتنﷻ هرومرو په دې هکله پوښتنه کوي، په دې دنیا کي هم د اسلام سپېڅلي دین ته د دعوت او د هغه د تبلیغ پر پرېښوولو باندي د خدایﷻ له لوري ډول ډول عذابونه نازلیږي او انسانان په ډول ډول لالهاندیو، سرګردانیو او جنجالونو باندي اخته کیږي د مثال په توګه:

1- که یو څوک ګناه کوي او نور یې ویني او د واک او وس سره سره یې له ګناه څخه نه راګرځوئ، نو په دې صورت کي ټول قوم په عذاب اخته کیږي.

رسولﷺ فرمایلي دي:

«که چیري په کومه ډله یا قوم کي کوم څوک ګناه کوي او هغه ډله یا قوم سره له دې چې وس لري چې هغه له دې ګناه څخه منع کړي. خو بیا یې هم نه منع کوي، نو پردوی باندي تر مرګ دمخه په دې نړۍ کي د خدایﷻ عذاب راځي» (ابو داود)

د پورتني حديث مضمون ته ځير سئ. په ذهن كي يې وساتئ او بيا فكر وكړئ چي زموږ د خپل ځان او خپلو متعلقينو، يعني خپلي مېرمني،كوچنيانو او شاګردانو د بدو او ناوړو كارونو په هكله موږ څنګه كړنه او معامله كوو؟

2- د واک او وس سره سره د تبليغ د پرېښوولو په صورت كي كلمه طيبه ويل ستاسي عذاب نه دفع كوي.

د رسول اللهﷺ څخه دا هم نقل سوي دي چي د توحيد كلمه (لا إله إلا الله محمد رسول الله) د هغه ويونكي ته تل ګټه رسوي او له هغه څخه عذاب او بلا دفع كوي. البته چي د دې كلمې د حقوقو په هكله بې پروايي او د هغې سپكاوى ونه سي. صحابه ووﷺ عرض وكړ چي د كلمې شريفي له حقوقو څخه بې پروايي او سپكاوى څنګه وي؟ رسول اللهﷺ وفرمايل: د كلمې طيبې د حقوقو څخه بې پروايي او د هغې استخفاف دادى چي خلك په عامه او ښكاره توګه د خداى تعالى نافرمانى كوي او د دې نافرمانيو د مخنيوي لپاره څوك هڅه او كوشش نه كوي. (رواه الأصبهاني)

3- پر دغسي قوم باندي په دې نړۍ كي عذاب نازلېږي او هغه څوک يې چي يوازي خپله ښه سړى وي او نېك عملونه تر سره كوي، له دنيوي عذاب څخه نه خوندي كيږي.

حضرت بي بي عايشيؓ له رسول اللهﷺ څخه پوښتنه وكړه چي: كه چيري د خدایﷻ عذاب د مځكي د يوې برخي پرخلكو باندي نازل سي او هلته ځيني خلك دين داره وي، نو هغو ته هم تاوان رسيږي؟ رسول اللهﷺ وفرمايل: «په دې نړۍ كي خو ټولو ته

تاوان رسيږي، مګر په آخرت کي دغه خلك له ګناه کارانو څخه جلا کيږي».

نو هغه ښاغلي دي چي په خپله دينداري باندي ډاډه دي، بې غمه نه اوسي. ځکه که چيري خدای ﷻ مکړه د منکراتو د عامېدو و له امله کوم عذاب نازل سي، نو هغوی هم پکښي ځپل کيږي.

4- د امر بالمعروف او نهی المنکر په نه کولو سره پر ډېر شديد عذاب سربېره د دعا د نه قبلېدو بېره هم سته.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«ای خلکو! تر دې دمخه چي تاسي خدای تعالی ته دعا وکړئ او هغه ستاسي دعا قبوله نه کړي، امر بالمعروف او نهی عن المنکر وکړئ. او تر دې دمخه چي تاسي مغفرت وغواړئ او خدای ﷻ يې قبول نه کړي، هم امربالمعروف او نهی عن المنکر وکړئ. باور وکړئ چي امر بالمعروف او نهی عن المنکر نه رزق له منځه وړي او نه مرګ نژدې کوي. کله چي د يهودو عالمانو او د عېسويانو راهبانو امر بالمعروف او نهی عن المنکر پرېښود، نو خدای ﷻ د هغو د انبيا وو په خوله پر هغو باندي لعنت وکړ او بيا په عام عذاب اخته سول».

د حضرت عايشې رضي الله عنها په روايت کي دا هم راغلي دي چي رسول الله ﷺ وفرمايل: «له خدای تعالی څخه د مرستي تر غوښتلو دمخه امربالمعروف او نهی عن المنکر وکړئ، بيا مرسته وغواړئ» (رواه ابن ماجه)

5- که عام مسلمانان د ګناه او نافرمانۍ له غرقېدو څخه ونه ژغورئ، نو خپل غرقېده هم يقيني وبولئ.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«د هغه چا مثا ل چي د خدایﷻ پر حدودو باندي ټينګ وي او د هغه چا مثا ل چي د خدایﷻ له حدودو څخه تېرى کوي د هغه قـوم په شان دى چي ځيني يې د بېړۍ په لوړ پوړ کي ناسـت وي او ځيني يې په لاندني پوړ کي ناسـت وي.په پـورتني پـوړ کـي اوبـه وي او پـه لاندني پوړ کي اوبه نه وي. کله چي د لاندي پوړ خلـك اوبـو تـه اړتيـا پيـدا کـړي، نـو د اوبـو لپـاره د بېـړۍ لـوړي برخـي تـه ورځـي او اوبـه راوړي. نو که دوى دا فکر وکړي چي په پـلاوو پـلاوو د اوبـو راوړلـو لپاره لوړ پوړ ته تلل د دغه پور خلکو ته تکليف رسوي، ځکه نو مـوږ بايد د بېړۍ لاندنۍ برخه څه سورۍ کړو چي د سـمندر اوبـه ترلاسـه کړو او د لوړ پوړ خلک زموږ له تکليفه خلاص سي. په دې صـورت کي که د لوړ پوړ خلک دغه احمقان له دې کار څخـه را ونـه ګرځـوي او وواييي چي هغوى پوه سه او کار يې، زموږ يې پـه څـه، نـو پـه دې صورت کي به دغه بېړۍ هرمرو ډوبه سي او د واړي ډلي به لـه منځـه ولاړي سي. خو که دغه ناپوهان لـه دې کـاره راوګرځـوي، نـو دواړي ډلي به له غرقېدو څخه وژغورل سي».

6- دا د خدایﷻ قانون دى چي تر څو نور له ظلم څخـه منـع نـه سي نجات موندل ستونزمن کار دى.

رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

په بنى اسرائيلو کي تر ټولو دمخه تنزل پـه دې ډول سـره پيـل سـو چي کله به يوه سړي بل وليدى چي يو ناوړه کار به يې کاوه، نـو هغـه به يې د دې کارکولو څخه منع کاوه او ورته ويـل بـه يـې چـي ګـوره د خدایﷻ څخه وبېرېږه داسي مه کوه.خو د هغه پر نه منلو سـربېره بـه يې د هغه سړي سره پـه خوړلـو، څښـلو، ناسـته او ولاړه کي هغسي

کړنه کول لکه چي تر ګناه دمخه يې ور سره کول. کله چي دا چاري عامي سوې، نو خدایﷻ د نافرمانانو له شامته د فرمان وړونکو زړونه هم د نافرمانو د زړونو غوندي کړل.

بیا رسول اللهﷺ د خپلو دغو خبرو په تایید دغه آیتونه تلاوت کړل:

﴿لُعِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنۢ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ عَلَىٰ لِسَانِ دَاوُۥدَ وَعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَۚ ذَٰلِكَ بِمَا عَصَواْ وَّكَانُواْ يَعۡتَدُونَ ٧٨ كَانُواْ لَا يَتَنَاهَوۡنَ عَن مُّنكَرٖ فَعَلُوهُۚ لَبِئۡسَ مَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ٧٩ تَرَىٰ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ يَتَوَلَّوۡنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ لَبِئۡسَ مَا قَدَّمَتۡ لَهُمۡ أَنفُسُهُمۡ أَن سَخِطَ ٱللَّهُ عَلَيۡهِمۡ وَفِي ٱلۡعَذَابِ هُمۡ خَٰلِدُونَ ٨٠ وَلَوۡ كَانُواْ يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَٱلنَّبِيِّ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مَا ٱتَّخَذُوهُمۡ أَوۡلِيَآءَ وَلَٰكِنَّ كَثِيرٗا مِّنۡهُمۡ فَٰسِقُونَ ٨١﴾ [المائدة: ۷۸-۸۱].

ژباړه: «د بنی اسرائیلو کافرانو ته د داود او د مریمي د زوی عیسی په خوله لعنت ویل سوی دی. دا لعنت له دې امله وو چي هغو پر له پسې (د خدای له حکمه) مخالفت کاوه او (په ظلم او وراني کي) ترحد تېرېدل. هغو له ناوړو اعمالو څخه چي تر سره کول يې لاس نه اخیست او یو بل يې له دغسي کارو نو څخه نه منع کول. د دوی دا کار ډېر بد وو (ځکه چي یوې ډلي منکرات ترسره کول او بله پټه خوله اوسېدل، په دې توګه ټول مجرمان سول). تاسي به په دوی کي ډېرخلك ووینئ چي د کفارو سره دوستي کوي (او د اسلام سره د جګړې لپاره د کفارو ملګري کېږي). هغوی څونه بده توښه د خپلو ځانونو لپاره له وړاندي څخه (آخرت ته) لېږي. داسي توښه چي د خدای د قهر او په دوږخ کي د تل تر تله پاته کېدو لامل ګرځي. خو که چیري دې خلکو پرخدای او پیغمبراو پرهغو کتابونو باندي چي هغه ته يې رااستولي وه ایمان درلودای، نو د کافرانو

سره به یې هیڅکله دوستي نه وای کړې. خو په دوی کې ډېر خلك فاسق او له ایمان څخه وتلي دي».

وروسته رسول الله ﷺ په ډېر ټینګار سره حکم وکړ چې امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوئ. ظالم له ظلم څخه منع کوئ او د حق لورته یې بولئ.

لنډه دا چې د دعوت او تبلیغ پرېښوول زموږ د اوسنیو خواریو او پرېشانیو لامل باله سي. نن مهال د مسلمان امت حالت تر بدو بدتر سوی دی او هره ورځ مسلمانان په نوو نوو پرېشانیو او لالهاندیو اخته کیږي. چې د دې لامل د مسلمانانو لخوا ډول ډول ناوړي چاري ترسره کول، د هغو پر ضد اقدام او هلي ځلي نه کول او د دعوت او تبلیغ پرېښوول دي.

که اوس هم مسلمانان د غفلت له خوبه راویښ نه سي او دا کار چې د نبوت موخه او مقصد باله سي پر نبوي طریقه پیل نه کړي، نو به له بربادۍ او تباهۍ څخه ځان ساتل او ژغورل ډېر ستونزمن وي. خدای تعالی دي موږ ټول و ساتي آمین.

## د دعوت ښېګڼي او فضایل

لکه څنګه چې د دعوت او تبلیغ په پرېښوولو سره د خدایﷻ له لوري عذاب نازلیږي، په همدې ډول د دې کار ترسره کول هم ډېري ښېګڼي او فضیلتونه لري چې د هغو په هکله خدایﷻ په قرآن کریم او رسول الله ﷺ په خپلو سپېڅلو ویناوو (احادیثو) کې ارشادات فرمایلي دي. څنګه چې دلته د دې ټولو آیتونو او حدیثونو راوړل

زموږ د خبرو د اوریدو لامل ګرځي، ځکه نو د تبرک لپاره پر لاندي څو آیتونو او حدیثونو باندي بسنه کوو.

1- لوی څښتنﷻ فرمایلي دي:

﴿وَمَنۡ أَحۡسَنُ قَوۡلٗا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ٣٣﴾ [فصلت: ۳۳].

ژباړه: «تر دې ښه خبره چیري ده چي خلك نور وګړي د خدای لوري ته وبولي او خپله هم نیك عملونه وکړي او د اطاعت د ښرګندولو لپاره ووایي چي زه له مسلمانانو (فرمان وړونکو) څخه یم».

یعنی په بنده ګي باندي فخر وکړي او د متکبرینو په شان په ونه شرمیږي.

د چا ستاینه چي خدایﷻ په داسي الفاظو سره وکړي، نو د هغه ستره مرتبه څوك اندازه کولای سي؟موږ ته ښایي چي ځانونه د دغسي خلکو غوندي جوړ کړو.

2- بل ځای لوی څښتنﷻ فرمایلي دي:

﴿وَٱلۡمُؤۡمِنُونَ وَٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلِيَآءُ بَعۡضٖۚ يَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَيَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَيُقِيمُونَ ٱلصَّلَوٰةَ وَيُؤۡتُونَ ٱلزَّكَوٰةَ وَيُطِيعُونَ ٱللَّهَ وَرَسُولَهُۥٓۚ أُوْلَٰٓئِكَ سَيَرۡحَمُهُمُ ٱللَّهُۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٞ ٧١﴾ [التوبة: ۷۱].

ژباړه: «او مسلمان نارینه او مسلماني ښځي ټول د یو بل دوستان دي. په ښو چارو امر (ښوونه) او له بدیو منع کوي.لمونځونه کوي. زکات ورکوي. او د خدای او د هغه د پیغمبر اطاعت کوي. دا هغه کسان دي چي پر هغو باندي به د خدای رحمت نازلیږي. بې شکه خدای پر ټولو لاسبری، حکیم او ځیرك دی».

ورپسې د دې رحمت بيان کيږي چې خدایﷻ د مسلمانو نارينه وو او مسلمانو ښځو سره د داسې باغونو ژمنه کړې ده، چې د هغو ترونو لاندې به ولې بهيږي او دوی به تل په هغه ځای کې اوسيږي او دښکلو کورونو ژمنه يې ورسره کړې ده چې هغه به په دې باغونو کې وي. او د دې نعمتونو تر ټنګ بل ستر نعمت د خدایﷻ رضا ده چې د تل لپاره به د جنتيانو په برخه وي، چې دا د انسان لپاره ستر برياليتوب دی. په دې آيت کې چې د رحمت د ترلاسه کولوکومه طريقه ښوول سوې ده، هغه امر بالمعروف او نهی عن المنکر؛ يعني د دعوت طريقه ده، چې د هغې خلاصه پورته بيان سوې ده او د هغې لپاره يوازې همت ته اړتيا ده، بس نو همت وکړئ او رحمت تر لاسه کړئ.

3- رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

«مَنْ سَنَّ فِي الإِسْلاَمِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا بَعْدَهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ وَمَنْ سَنَّ فِي الإِسْلاَمِ سُنَّةً سَيِّئَةً كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَوِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ» (رواه مسلم).

ژباړه: څوک چې په اسلام کې ښه طريقه رامنځ ته کړي، هغه ته به د هغې ثواب او اجر هم ورکول کيږي، او د هغو خلکو ثواب به هم ورکول سي چې تر ده وروسته پر دغه ښه طريقه باندې عمل کوي. پرته له دې چې د هغو خلکو په ثواب کې کوم کموالی راسي. او څوک چې په اسلام کې بده طريقه رامنځ ته کړي، هغه ته به د دې کارسزا هم ورکول کيږي او د هغو خلکو ګناه به هم د ده په غاړه وي

چي وروسته پر دې بده طريقه باندي عمل کوي. پرته له دې چي د هغو خلکو په ګنهونو کي کوم کموالی راسي.

له دې څخه څرګنديږي چي که چيري يو سړی د يو چا د زيار او هڅوني له امله پرلمانځه باندي ټينګ سي، نو هر څونه ثواب چي هغه لمونځ کوونکي ته رسيږي هغونه ثواب به هره ورځ هغه هڅوونکي ته هم رسيږي. همدغسي نور نيك عملونه هم قياس کړئ.

سبحان الله! د خدایﷻ څونه ستر فضل دی چي په يوه لږ شانته زيار ايستلو باندي دونه لوی اجر ورکوي چي که وروسته دغه زيار ايستونکی خپله موجود هم نه وي، بيا هم ثواب ورته رسيږي.

4- پر دې سربېره چي په ديني چارو کي خپله زيار ايستونکي انسان ته د الله تعالی له لوري رزق ورکول کيږي، د هغه له برکته د هغه خپلوانو ته هم رزق پيدا کيږي.

حضرت انسرضي الله عنه وايي چي د رسول اللهﷺ په زمانه کي دوه وروڼه وه. يو ورور په يوه کار بوخت وو او بل د رسول اللهﷺ خدمت کاوه او ديني پوهه يې ترلاسه کول. هغه ورور چي کار يې کاوه رسول اللهﷺ ته د خپل ورور د کار نه کولو شکايت وکړ. رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: «ښايي چي تاته به هم د ده له امله رزق درکول کيږي» (رواه ترمذی)

ځکه نو که څوک شته ولري او دوستان او خپلوان يې د دين په چارو لګيا وي بايد د داسي دوستانو او خپلوانو د خدمت او د هغو د اهل او عيال د اړتيا وو ليري کولو ته پام واړوي. ځکه د ده د دې نعمت شکر په همدې ډول سره ادا کيږي او د خپلو شتو او نعمتونو

پراخي دي د خپلو دغسي عزيزانو په طفيل وبولي. خو له بده مرغه نن مهال موږ په دغه راز باندي د بې خبرۍ له امله پرداسي دين پالو او د اسلام او مسلمانانو د خدمت او پوهوني په چارو لګيا خلکو باندي نيوکي او اعتراضونه کوو او ملامت يې ګڼو، چي دا زموږ ډېره ستره غلطي ده.

5- هغه څوک چي د دين د زده کولو يا نورو ته د ښوولو لپاره يو ځاى ځي، هغه ته د حج ثواب ورکول کيږي. رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

«هغه څوك چي د نېکۍ زده کولو يا ښوولو لپاره مسجد ته ځي هغه ته د يوه داسي حاجي ثواب ور کول کيږي چي حج يې بشپړسوى وي (يعنى قبول سوى وي)» (جامع الکبير)

له دې ستري ښېګڼي څخه بې برخي کېدل له لوى سعادت څخه بې برخي کېده دي. دا د خداى تعالیﷻ څونه ستر انعام دى.چي څوک دوني پيسې ونه لري چي حج يا عمره په وکړي، نو هغه دا مرتبه د دعوت او تبليغ له لاري تر لاسه کولاى سي. دا څونه لوى فضل دى؟

برين مژده گر جان فشانم رواست!

6- کوم بدن چي د لوى څښتنﷻ په لار کي په دوړو ککړ سوى وي دوږخ ته نه ځي. د لوى څښتنﷻ ستر پيغمبرﷺ فرمايلي دي:

«هم به د خداى په لار کي د يوه بنده پښې په دوړو سپيرې سوي وي، او هم به دوږخ ته ځي؟ داسي نه سي کېدلاى» (رواه البخارى)

علماوو کرامو لیکلي دي چي د دیني ښووني او روزني، دعوت او تبلیغ، جهاد او د کوم محتاج سره د مرستي کولو لپاره تلل، ټول دخدایﷻ په لار کي هلي ځلي بلل کیږي.

7- څوک چي د خدایﷻ په لار کي ووزي او په دې لار کي چي هر څوني پیسې ولګوي، که څه هم هغه پیسې په ځان وخوري خدایﷻ د هغه په عوض کي اووه سوه برابره ثوابونه ورکوي.

په دې هکله رسول اللهﷺ فرمایلي دي:

«څوك چي د خدای تعالی په لار کي پیسې خرڅي کړي خدای تعالی د هغو په عوض کي اووه سوه برابره ثوابونه ورکوي» (رواه الترمذی والنسایي)

د لوی څښتنﷻ څونه ستر احسان دی چي په دې لار کي د یوې افغانۍ لګښت په سلو نه، بلکي په اووه سوه بدلوي. موږ ته ښایي چي د دې بشارت په پام کي نیولو سره وګورو چي موږ د خدایﷻ د رضا او خوښۍ لپاره له خپلي ګټي څخه څونه برخه د هغهﷻ په لار کي خرڅوو. که مو تر اوسه پوري دا کار نه وي کړی، نو په راتلونکې کي یې باید هرو مرو خپل معمول وګرځوو.

8- تبلیغ د رسول اللهﷺ د دعاوو د برکاتو د تر لاسه کولو ذریعه ده. لکه چي رسول اللهﷺ دعا فرمایلې ده:

«خدای دي هغه سړی تل روغ او نیکمرغه وساتي چي (په واسطه یا یې بې له واسطې) یې زما څخه کومه خبره اورېدلي وي او بیا هغه خبره نورو ته داسي و رسوي لکه څنګه چي یې اورېدلي وه» (نورو ته پر رسولو باندي ځکه دونه ستر انعام تاکل سوی دی) چي تر ډېرو اورېدونکو هغه ښاغلي ډېرپوه وي چي دا خبري ور رسېدلي وي (او

هغـوی لـه هغـو څخـه د احکـامو د اسـتنباط اسـتعداد لـري) (رواه الترمذی و ابن ماجه)

البته له دې حدیث څخه د هغـو کسـانو فضـیلت هـم څرګنـدیږي چي له احادیثو څخه په فهم او پوهه سره مسایل څېړي. چـي دغسـي عالمانو ته فقهاویل کیږي.

دغه راز په دې حدیث شریف کي د دین د تبلیـغ کوونکـو د سـترو فضایلو بیان راغلی دی او د دې لوی نعمت (یعنی د رسول اللـهﷺ د دعاوو) د تر لاسه کولو طریقه پکښې بیـان سـوې ده. کـومي چـي هـر څوک یې زښت زیات محتاج دی. البته دا کار دونه اسانه دی چي هر څوك یې تر سره کولای سي. د دین هره خبره چـي تـر بـل چـا پـوري ورسوي، د خپلو هلو ځلو سره سم به د دې دعا له برکـاتو څخـه ګټـه تر لاسه کړي، ان شاء الله تعالی.

## د دعوت او تبليغ آداب

دا کار د لوی څښتنﷻ يو ډېر مهم عبـادت او سـتره نېکمرغـي ده او د انبیای کرامو عليهم السلام ځای ناستي تـوب او نیابـت دی. کـار چـي هـر څونه ستر وي، په هماغه کچه آدابو ته اړتیـا لـري. چـي بایـد هغـو تـه ډېره پاملرنه وسي. ځکه هر کار چي د هغه د آدابو او اصولو سره سم تر سره سي، د هغه ګټه هم ژر تر لاسه کیږي او تر ډېره وخته وي. که نه نو هغه مثال به وي چي وایي: «نیکي بربـاد ګنـاه لازم». بیـا څنګـه چي دا کار د انبیاوو عليهم السلام دی، نو د هغه آداب هم هغه دي چي انبیاوو غوره کړي دي یا یې د غوره کولو حکم ورته سوی دی.

ځنګه چي په دې لنډه رساله کي د زيات تفصيل ورکولو لپاره ځای نسته نو موږ له هغو آدابو څخه يو څو ادبه په لنډه توګه بيانوو. لوی څښتن ﷻ ته مو دعا ده چي موږ ته د دې آدابو په رڼا کي د خپل دين او د رسول ﷺ د سنتو د ترويج او تشهيرتوفيق را کړي آمين يا رب العالمين.

1- تر ټولو لومړۍ او مهمه خبره داده چي هر مسلمان دي د ټولو نا اړينو دنيوي اغراضو او مقاصدو سره شلوون وکړي. او اعلاء كلمة الله (د لوی څښتن د دين سرلوړي)، د اسلام خپرېده او پوهاوي او د خدای ﷻ د احکامو پلي کېده دي خپل نصب العين وګرځوي. او ټينګه ژمنه دي وکړي چي د لوی څښتن ﷻ هرحکم منم او پر هغه باندي د عمل کولو هڅه کوم او هيڅ وخت د خدای تعالی نافرماني نه کوم او د دې نصب العين لپاره همدغه کړنلار په مخ کي نيسم.

2- خپل ټول کارونه او خبري په اخلاص او ښه نيت سره ښکلي کړئ، ځکه چي په اخلاص سره ډېرلږ عمل هم د خير او برکت موجب ګرځي او ښه مېوه ورکوي. په کوم کار کي چي اخلاص نه وي، نه په دې نړۍ کي کومه ثمره ورکوي او نه په آخرت کي کوم اجر او ثواب لري. کله چي رسول الله ﷺ حضرت معاذ رضي الله عنه يمن ته د حاکم په توګه لېږی، نو هغه هيله ځني وکړه چي ماته نصيحت وکړه. رسول الله ﷺ ورته وفرمايل: «د دين په کارونو کي له اخلاص څخه کار اخله، ځکه چي د اخلاص سره لږ عمل هم کفايت کوي».

په يوه بل حديث کي رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«خدای تعالی په ټولو عملونو کي يوازي هغه عمل قبلوي، چي يوازي د هغه لپاره تر سره سوی وي». بل ځای يې فرمايلي دي: «خدای تعالی ستاسي مخونو او ستاسي مالونو ته نه ګوري، بلکي ستاسي زړونو او ستاسي عملونو ته ګوري».

نو تر ټولو مهمه او اصله خبره داده چي دا کار بايد په ډېر اخلاص تر سره سي. په دې کار کي بايد ريا ونه سي. په کار کي چي هر څونه اخلاص وي هغونه پرمختګ کوي.

3- تر دعوت، تبليغ او نصيحت دمخه مو بايد په دې چارو باندي ښه ځان پوه کړي وي. البته په دې چارو باندي د پوهېدو ډېره ښه او آسانه ذريعه د محققو علماوو کتابونه يا له هغو څخه پوښتني دي، که نه نو د ناسمي خبري د خپرېدو دګناه بېره ده.

4- «داعی الی الله» (د خدایﷻ لوري ته بلونکی) سئ او د دعوت او تبليغ دنده سرته ورسوئ.يعنی يوازي د خدایﷻ لوري ته د خلکو بلونکی سئ. د خدایﷻ بندګان له خدایﷻ پرته بل هيڅ لوري ته مه بولئ. مه يې وطنيت او قوميت ته ور بولئ، مه يې ژبني تعصب ته دعوتوئ او مه يې کومي ځانګړي ډلي ته ور جذبوئ. د مومن اصلي موخه (نصب العين) يوازي د الله تعالی رضا ده. دغه هدف (نصب العين) ته خلک وبولئ او دا باور ولرئ چي د بنده کار يوازي دادی چي د خپل خالق او مالك بنده ګي وکړي؛ هم په خپل انفرادي ژوند کي؛ هم په کورني ژوند کي؛ هم په ټولنيز ژوند او هيوادنيو چاروکي. لنډه دا چي ټول ژوند د خپل ښښتن او

پروردګار د لاښوونو په پلي کولو کي تېرکړئ. او په اخلاص سره د هغه د قانون پیروي وکړئ. له دې پرته بل هیڅ داسي شی نسته چي مسلمان دي هغه خپل نصب العین وټاکي او هغه ته خلك وبولي. کله چي یو مومن د الله ﷻ له لارښووني څخه سر وغړوي او د هغه ﷻ له رضا پرته بل شی خپل (نصب العین) وټاکي، نو په دواړو نړیو کي به ناکامه او نامراده پاته وي. لوی څښتن ﷻ فرمایي:

﴿وَمَنْ أَحْسَنُ قَوْلًا مِّمَّن دَعَآ إِلَى ٱللَّهِ وَعَمِلَ صَٰلِحًا وَقَالَ إِنَّنِي مِنَ ٱلْمُسْلِمِينَ ﴿٣٣﴾﴾ [فصلت: ۳۳].

ژباړه: «تر دې ښه خبره چیري ده چي خلك نور وکړي د خدای لور ته وبولي او خپله هم نېك عملونه وکړي او د اطاعت د څرګندولو لپاره ووایي چي زه له مسلمانانو (فرمان وړونکو) څخه یم».

5- دا ښه په یاد ولرئ چي د دعوت او تبلیغ له مسنون نظام څخه پرته بل هیڅ نظام او د تبلیغ ترتیب بعینه مقصود نه دی. ځکه نو کوم خاص ترتیب مقصود بلل او هغه څوک چي په هغه لګیا نه وي، دعوتګر او تبلیغوونکی نه ګڼل له صریحو حدودو څخه تېری او بدعت دی. البته که د دعوت په کوم ترتیب کي د دین له اصولو او حدودو څخه کومه مخالفه خبره وي، نو هغه باید اصلاح سي. او په دغسي سمون غوښتونکو چارو د لویانو خبرول د خیر کار دی. که په کوم بل ترتیب کي کومه دیني خرابي نه وي، خو د چا زړه نه غواړي چي په هغه کي د تبلیغ په موخه ګډون وکړي او وایي چي دا کار بیا څله پر لار واچول سو؟ دا هم له حدودو څخه تېری او د نه اخلاص

نخښه ده. دغسي کسانو ته د خپلو ځانونو اصلاح ډېره اړينه ده، او نن مهال دا ناروغي ډېره عامه سوې ده، الا ماشاء الله.
که څوک کوم ترتيب د ځان لپاره مناسب وګڼي، او هغه غوره کړي او پر نورو رد ونه وايي نو په دې کي څه حرج نسته.

6- نرمي غوره کول د تبليغ له آدابو څخه ګڼل کيږي. خليفه مامون الرشيد ته يوه سړي په تنده لهجه نصيحت وکړ. مامون ورته وويل: خبري په نرمي سره وکړه، ځکه خدایﷻ تر تا ډېر ښه انسانان، يعنی حضرت موسی او حضرت هارون (عليهما السلام) ترما ډېر بد سړي، يعني فرعون ته ور استولي وه او ورته فرمايلي يې وه:
﴿فَقُولَا لَهُۥ قَوۡلٗا لَّيِّنٗا لَّعَلَّهُۥ يَتَذَكَّرُ أَوۡ يَخۡشَىٰ ٤٤﴾ [طه: ٤٤].
ژباړه: «له هغه سره په نرمي خبري وکړئ، ښايي چي هغه نصيحت ومني يا وبيريږي».

د احاديثو په کتابونو کي راغلي دي چي يو ځوان د رسول اللهﷺ په خدمت کي حاضر سو او غوښتنه يې ځني وکړه چي ماته د زنا کولو اجازه راکړه. صحابه وو د دغه ځوان د دې خبرو د اورېدو زغم ونه درلودلای سو او په خښم سول.رسول اللهﷺ هغه سوال کوونکي ته وفرمايل: را نژدې سه، او بيا يې ورته وفرمايل:«آيا ته غواړې چي يو څوك ستا د مور سره زنا وکړي؟ هغه ورته وويل: ستا قربان سم زه هيڅ وخت دا نه غواړم. رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: همدغسي نورخلك هم نه غواړي چي د دوی د مور سره زنا وسي. بيا يې ورته وفرمايل: آيا ته دا خوښوې چي يو څوك ستا د لور سره زنا وکړي؟ هغه عرض وکړ چي:ستا قربان سم نه، زه دا نه غواړم. نو رسول

اللهﷺ ورته وفرمایل: همدغسي نور خلك هم ستا غوندي نه غواړي چي د دوی د لوڼو سره دي زنا وسي. لنډه دا چي په دې ډول سره يې د خور، عمه او خاله پوښتني ځني وکړې او هغه ځوان په ټولو مواردو کي بد وړل ځرګند کړل. بيا رسول اللهﷺ خپل لاس مبارك د هغه سړي پر سينه کښېښود او دعا يې وکړه چي ای خدايه!د ده زړه ور پاك کړې او ګناه يې ور وبخښې او شرمځای يې له ګناه کولو څخه ورروساتې».

روايت کوونکی وايي چي تر دې وروسته هغه سړي د هيڅ شي څخه دونه بد نه وړل او هيڅ شی د هغه لپاره دونه د کرکي وړ نه وو لکه زنا. مقصد دا چي په دعا، نصيحت او په نرمښت سره خلک پوه کړئ.

7- تبليغ بايد په داسي ځای کي وکړئ چي خلك يې اورېدو ته چمتو وي او وايې وري، غافلو او بې پروا ساکښانو ته تبليغ مه کوئ. ځکه چي په دې سره د دين سپکاوی کيږي او له امله يې د دغو کسانو د ګناه بار نور هم درنيږي.

رسول اللهﷺ وفرمایل:«ديني عالم هله ښه وي چي يو څوك ديني اړتيا ورته وړاندي کړي، او هغه ګټه ور ورسوي (يعنی د دين تعليم ورکړي)،خو كه څوك هغه ته خپله اړتيا وړاندي نه کړي، نو هغه هم بې پروا کيږي».

8- تبليغ کوونکي ته ښايي چي په دعوت او د مسائلو په پوهولو کي نرمي غوره کړي، سختي ښه نه ده. ځکه کېدای سي له دې امله په خلکو کي کرکه رامنځ ته سي. خو دې ته هم بايد متوجه وي چي داسي نرمي هم جواز نه لري چي له امله يې د

شريعت سپكاوی وسي يا بدعت دود سي.

په صحيح البخاری كي له حضرت ابو هريرهؓ څخه روايت دی چي: رسول اللهﷺ په نبوي جومات كي پر لمانځه ودريدی او موږ هم پسي ودريدلو. دغه مهال يوه كليوال په لمانځه كي دعا وكړه چي ای خدايه! پر ما او پر رسول اللهﷺ باندي رحم وكړه او (په دې رحمت كي) زموږ دواړو سره بل هيڅوك مه شريكوه (هغه فكركاوه چي رحمت به لږ وي، نو كه نور خلك را سره شريك سول، زموږ برخه به لږ سي). كله چي رسول اللهﷺ سلام وګرځاوه اعرابي ته يې فرمايل:«تا خو نا محدود شی خپل ځانته محدود كړ». بيا همدغه كليوال څو شيبې وروسته په مسجد كي متيازي وكړې، خلكو د هغه د ترټلو هڅه وكړه. خو رسول اللهﷺ هغوی منع كړل او ورته ويې فرمايل: «تاسي د آسانۍ لپاره راغلي ياست، د سختۍ لپاره نه ياست راغلي، پر ميتيازو يوه سلواغه اوبه واچوئ».

9- د خپلو كوچنيانو اصلاح او تربيه او د ديني فرايضو د ښه او سم سرته رسولو لپاره د هغو چمتو كول د يوه مسلمان هم لومړنۍ فريضه ده، او هم يې د هلو ځلو او بوختياوو فطري ډګر دی. دا ميدان پريښول او د خپل تبليغ او اصلاحي كوښښونو لپاره د كور د باندي بل ميدان لټول يو نامعقول او غير فطري عمل دی. دا ډېره ستره كمزوري او له خپلو اصلي دندو او فرايضو څخه تښتېدل باله سي. دا داسي مثال لري لكه يو څوك چي د كاختۍ پر مهال خپله كورنۍ وږې تږې پرېږدي او دباندي د اړو كسانو په لټه كي سي او هغو ته د غلې او اړتيا وړ شيانو په وېشلو او سخاوت سره ځان ښكاره كړي.

ګواکي هغه نه د خپلي کورنۍ د غړو له لوړي او تندي خبر وي او نه مينه او محبت ورسره لري، او نه يې ذهن د غلې د تقسيمولو د حکمت سره آشنا وي. لوی څښتنﷻ مومنانو ته لارښوونه کړې ده:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمْ وَأَهْلِيكُمْ نَارًا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلْحِجَارَةُ﴾ [التحريم:٦].

ژباړه: «ای مومنانو! خپل ځانونه او خپل اولادونه او کورنۍ د دوږخ له هغه اور څخه وژغورئ چي د سون مواد يې انسانان او ډبري دي».

رسول اللهﷺ د دې آيت تشريح په دې الفاظو کړې ده:

«كُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ الْإِمَامُ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي أَهْلِهِ وَهُوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا وَالْخَادِمُ رَاعٍ فِي مَالِ سَيِّدِهِ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ قَالَ وَحَسِبْتُ أَنْ قَدْ قَالَ وَالرَّجُلُ رَاعٍ فِي مَالِ أَبِيهِ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ وَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَمَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ» (بخاری او مسلم)

ژباړه: ستاسي هر يو سرپرست او څارونکی دی، او ستاسي له هر يوه څخه د هغو کسانو په هکله پوښتنه کيږي چي ستاسي تر سرپرستۍ او څارني لاندي دي.واکمن د هغو کسانو څارونکي دی چي د ده تر واک لاندي دي، له هغه څخه د هغو په هکله پوښتنه کيږي. خاوند د خپلي کورنۍ څارونکی دی، له هغه څخه د هغه د کورنۍ د غړو په هکله پوښتنه کيږي. ښځه د خپل خاوند د کور او کوچنيانو څارونکې ده، له هغې څخه د هغې د کور او کوچنيانو په هکله پوښتنه کيږي. خادم او مزدور د هغه چا د مال او شتو

څارونکی دی چې کار ورته کوي او د هغو په اړه پوښتنه ځني کيږي.زوی د پلار د مال او شتو څارونکی دی او د هغو په اړه پوښتنه ځني کيږي. نو په تاسي کي هر يو څارونکی دی او له ټولو څخه د هغو خلکو په هکله پوښتنه کيږي چي ستاسي تر څارني لاندي دي.

د دې تر څنګ پر مسلمان باندي لازمه ده چي د خپلو ګاونډيانو او د شاو خوا اوسېدونکو د اصلاح او تربيې په هکله هم فکر وکړي او د هغوی اصلاح کول هم خپله فريضه وګڼي.

10- په هر حال کي خلکو ته د بشپړ دين دعوت ورکړئ او له خپلي پوهي څخه هيڅ شی مه پټوئ. د اسلام دعوت کوونکي ته دا حق نسته چي هغه د خپل مصلحت سره سم د خپلي پوهي څه وړاندي کړي او څه پټ کړي. لوی څښتن ﷻ فرمايلي دي:

﴿وَإِذَا تُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ءَايَاتُنَا بَيِّنَٰتٍ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا ٱئْتِ بِقُرْءَانٍ غَيْرِ هَٰذَآ أَوْ بَدِّلْهُ ۚ قُلْ مَا يَكُونُ لِىٓ أَنْ أُبَدِّلَهُۥ مِن تِلْقَآئِ نَفْسِىٓ ۖ إِنْ أَتَّبِعُ إِلَّا مَا يُوحَىٰٓ إِلَىَّ ۖ إِنِّىٓ أَخَافُ إِنْ عَصَيْتُ رَبِّى عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٥﴾ قُل لَّوْ شَآءَ ٱللَّهُ مَا تَلَوْتُهُۥ عَلَيْكُمْ وَلَآ أَدْرَىٰكُم بِهِۦ ۖ فَقَدْ لَبِثْتُ فِيكُمْ عُمُرًا مِّن قَبْلِهِۦٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿١٦﴾ فَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِـَٔايَٰتِهِۦٓ ۚ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلْمُجْرِمُونَ ﴿١٧﴾﴾ [يونس: ١٥-١٧].

ژباړه: «کله چي دوی (مشرکينو) ته زموږ روښانه آيتونه (خبري) وړاندي کيږي، نو هغه خلك چي (د محشر په ورځ) زموږ سره د يو ځای کېدو هيله مند نه دي وايي چي د دې پر ځای کوم بل قرآن راوړه يا په دې

کي څه بدلون راوله. ای محمده! دوی ته ووایه زما کار دا نه دی چې له خپله ځانه په هغه کي څه بدلون راولم. زه خو یوازې د هغو وحو پېرو یم چې ماته لېږل کېږي. که زه د خپل رب له امرڅخه سر وغړوم، نو زه له یوې ډېرې هېبتناکې ورځې (قیامت) له عذابه بېرېږم. او (ای محمده! دوی ته) ووایه که د الله اراده هم دا وای نو ما به دا قرآن تاسې ته هیڅکله نه وای اورولی او الله به تاسې ته د هغه خبر قدري هم نه وای درکړي، (نو پوه سئ چې هغه حق او د الله له لوري دی، ځکه چې تاسې پو هېږئ چې) ما تر دې د مخه ستاسې په منځ کې ډېر عمر تېر کړی دی (او خپله رشتینولي او امانت مي درښوولی دی، خو د مخه مې له دې خبرو څخه هیڅ نه دي درته ویلي، نو) آیا (په داسې څرګندو خبرو هم) نه پوهېږئ؟ له هغه څخه به بل غټ ظالم څوك وي چې په الله پوري د درواغو خبره وتړي، یا د خدای رشتیاني آیتونه درواغ وګڼي. باور دی چې دغسې مجرمان هیڅکله نه سي بریالي کېدلای، (بلکي تل ترتله به په عذاب اخته وي)».

له پورتنیو آیتونو څخه څرګنده سوه چي که حالات او شرایط هر څونه نامساعد هم وي د داعي کار په هرصورت کي دا دی چي دین په بشپړه توګه، په خپله اصلي څېره او حالت کي خلکو ته وړاندي کړي او د خدایﷻ په دین کي لږ والی او ډېر والی او د حالاتو د تقاضا سره سم په هغه کي تغیر او تبدیل راوستل لوی ظلم دی. البته که څوک دغسي کار وکړي دنیا یې هم خرابیږي او آخرت به یې هم خراب وي.

اسلام د هغه لوی څښتنﷻ را استول سوی دین دی، چې علم یې ټول کائنات احاطه کړي دي. له ازله تر ابده یقیني پوهه لري. لارښوونه یې له هر ډول نیمګړتیا او تېروتني څخه پاکه ده. د انساني

ژوند له پيل او پای څخه خبر دی. د هغه په اراده په انساني معلوماتو کې ورځ په ورځ اريانوونکې پراختيا رامنځ ته کيږي او په انساني ژوندانه کې اريانوونکي پرمختګونه څرګنديږي. نو ته خپله فکر وکړه چې په پورتني آيت کې چې د لومړني داعيﷺ مقام او دريځ دا ګڼل سوی وي چې هغه د يوه رشتيني فرمان وړونکي په څېر د دې دين پيروي کوي او ان د ډېري کوچنۍ نافرمانۍ او سرغړوني له تصور څخه په بېره کې وي، نو د نورو لپاره به د لوی څښتنﷻ په دين کې د لږېدو يا زياتېدو څه ګنجايش وي؟

11- په دعوت او تبليغ کې له حکمت او سليقې څخه په بشپړه توګه کار واخلئ، او د کار داسي طريقه غوره کړئ چې له هره پلوه ډېره موزونه، اغېزمنه، د دعوت له مقصد سره هم غاړې وي او په مخاطب کې لېوالتيا او ولوله پيدا کړي.

لوی څښتنﷻ فرمايلي دي:

﴿ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ﴾ [النحل:۱۲۵].

ژباړه: «ای محمده! خلک د خپل رب لاري ته (يعني د اسلام سپېڅلي دين ته) په حکمت (په پر ځای او ښکلو خبرو) او نېکو او غورو نصيحتونو سره وبوله او (که د مجادلې اړتيا وي)، نو د هغو سره په داسي ډول خبري او مباحثه وکړه چې ډېره غوره وي».

د قرآن کريم له دې جامع آيت څخه درې اصولي لارښووني څرګنديږي:

- بلنه او دعوت بايد په پوهه، حکمت او پر ځای او ښو خبرو سره وي.

- نصيحت او پوهونه بايد په ښه طريقه سره وسي.
- خبري او مباحثه دي په ډېره ښه او غوره طريقه سره و سي.

په حکمت سره د دعوت ورکولو مطلب دادی چي خپله دعوت کوونکي ته بايد د خپل دعوت د سپېڅلتوب او ستر توب په هکله بشپړ معلومات وي. دعوت کوونکی دي دغه ارزښتناک مقصد په ناپوهي سره ځای بې ځايه نه وړاندي کوي، بلکي موقع او محل ته دي ګوري او د مخاطب استعداد دي په بشپړه توګه په پام کي نيسي. د هري طبقې، ډلي او هر چا سره دي د هغه د فکري کچي، استعداد، صلاحيت، ذهني کيفيت او ټولنيز موقف سره سمي خبري کوي، او هغه غوره ارزښتونه دي د دعوت او افهام او تفهيم د بنسټ په توګه په کار واچوي چي ټول اتفاق پر لري او د نژدېکت او منښتي لپاره لار اواره کړي.

په ښه طريقه د نصيحت کولو مطلب دادی چي تبليغ کوونکی په داسي اغېزناکي، خيرغوښتنه او خلوص سره تبليغ وکړي او نېکي ولولې او جذبي را وپاروي چي د مخاطب زړه د شوق او رغبت له ولولو څخه ډک سي او د دين سره يې اړيکي يوازي د ذهني اطمينان تر پولي پاته نه سي، بلکي دين يې د زړه آواز، د روح غذا او د جذباتو تسکين جوړ سي.

په نيوکه او مباحثه کي د ډېري ښې طريقې غوره کولو مطلب دادی چي دتبليغ کوونکي نيوکه بايد تعميري بڼه ولري، د زړه سوي، لورېيني او اخلاص ښکارندويه وي او د خبرو انداز بايد دونه په زړه پوري او ساده وي چي په مخاطب کي د ضد، کرکي، تعصب او د

جاهليت د حميت ولولې را ونه پاروي، بلکي رشتياني اند او فکر ته يې اړ کړي او د حق د پلوۍ جذبه پکښې پيدا کړي.

12- دين په داسي حکمت او په داسي فطري انداز وړاندي کړئ چي مخاطب هغه يو غير فطري بار محسوس نه کړي او خلك ورځني د بد وړلو او کرکي پر ځای هغه د زړه له کومي ومني، له قبلولو څخه يې سکون او راحت احساس کړي او د دعوت کوونکي د نرمۍ، ژبني خوږوالي او حکيمانه رويې له امله د دين رشتينی خوند او کشش ومومي.

حضرت معاويه بن حکم السلميرضي الله عنه فرمايي:

«يو وخت ما د رسول اللهﷺ سره لمونځ کاوه چي په دې وخت کي يوه سړي وتريچل. ما په لمانځه کي د يرحمك الله په ويلو سره د هغه جواب ورکړ. د دې په ويلو سره ټولو خلکو ماته سترګي را واړولې، ما ورته وويل: خدای دي خيرکړي تاسي ولي ماته په داسي اريانتيا سره ګوري؟خلکو ماته د پټي خولې او سېدو اشاره وکړه او زه هم پټه خوله سوم. کله چي رسول اللهﷺ له لمانځه څخه خلاص سو ـ زما مور او پلار دي تر ده قربان سي ـ ما داسي ښه ښوونکی او روزونی نه تر ده دمخه ليدلی وو او نه مي تر ده وروسته ليدلی وو. رسول اللهﷺ نه ماته په غوسه سو، نه يې وترټلم، نه يې بد راته وويل، يوازي يې دا راته وفرمايل چي: «وګوره!زموږ په دې لمانځه کي خبري اتري کول مناسبي نه دي؛ لمونځ د خدایﷻ د پاکۍ او برترۍ د بيانولو او د هغه د سترتوب د څرګندولو او د قرآن کريم ويلو نوم دی» (مسلم).

وګورئ!رسول اللهﷺ په څونه نرمي او زړه وړونکي طریقې سره هغه کس پوه کړ چي نه دا چي دغه خبري پر هغه درنې نه سوې، بلکي دغه نصیحت یې د تل لپاره په یاد کي پاته سو.

13- داعي دي تل په خپلو لیکنو، ویناوو او خبرو اترو کي داسي منځ لاري (اعتدال) غوره کړي چي د اورېدنکو سره هم د هیلي او امید کیفیت پیدا سي او هم بېره پر غالبه سي. نه دي د بېري په هکله داسي له مبالغې څخه ډکي خبري کوي چي اورېدونکی د خدایﷻ له رحمت څخه نهیلي سي او د ځان اصلاح او ژغورل ور ته ستونزمن او ناشونی ښکاره سي. او نه دي د لوی څښتنﷻ د رحمت او بخښني داسي تصور وړاندي کوي چي هغه بېخي بې باک او بې پروا سي او د خدایﷻ د بې پایه رحمت او بخشش په هیله ګناهونو ته ملا وتړي.

حضرت علیرضي الله عنه فرمایلي دي:

«ډېر ښه عالم هغه دی چي خلك د خدای تعالی لوري ته (په داسي توګه دعوتوي) چي نه یې له خدایﷻ څخه مایوسه کړي، نه یې د لوی څښتنﷻ د نافرمانۍ لپاره لار اواره کړي. او نه یې د اللهﷻ له عذاب څخه بې غمه کړي».

14- په «فتاوی عالمګیري» کي دي: څوک چي ناوړه کار (منکر) تر سره کوي، لومړی یې په نرمي سره پوه کړئ.بیا له سختو خبرو څخه کار واخلئ، خو له ښکنځلو او بد ویلو څخه هرومرو ځان وساتئ، که بیا هم هغه ستا سي خبره ونه مني او تاسي د دې واک او قدرت لرئ چي هغه پر لار کړئ، نو له

خپل قدرت څخه کار واخلئ. که نه نو د هغه له مجلس څخه ولاړ سئ او د اصلاح کېدو دعا ور ته وکړئ.

پام مو وي چي په مستحباتو کي په مطلقه توګه نرمي په کار ده او په دې چارو کي سختي کول له حد څخه تجاوز باله سي. همدا راز د هغه چا سره چي زموږ تابع نه وي هم سختي مناسب نه ده. (حقوق العلم).

15- که يو څوک په کومه ناوړه چاره اخته وي او په يوازيتوب کي د هغې د پرېښوولو په هکله ورته وويل سي او وپوهول سي، خو و يې نه مني او د هغې ضرر تر عامو وګړو پوري رسېدونکی وي، نو بايد چي د دې چاري بد والی د عام خطاب له لاري په کومه عامه غونډه يا مجلس کي څرګند سي، څو خلک د دې خبري په ضرر خبر سي او د دغسي چا په عمل او فعل ونه غوليږي. البته په عام مجلس کي بايد دغه کس ته خطاب ونه سي.

16- له بې ځايه رواداری (مراعت او تعصب نه کولو)، غوړه مالی او د اصولو له قرباني کولو څخه په کلکه ډډه وکړئ. په قرآن کريم کي مومنان داسي ستايل سوي دي:

﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ﴾ [الفتح:۲۹].

ژباړه: «محمد د الله پيغمبر دی او کوم کسان چي د هغه سره دي د کافرانو په وړاندي تند او سخت زړي (قوي) دي. او په خپلو منځو کي زړه سواندي او مهربان دي».

يعنی هغوی د خپل دين او اصولو په معامله کي بېخي ډېر ټينګ دي، او په هيڅ حال کي هم د خپلو اصولو په باره کي څه انعطاف يا غوړمالي نه کوي. هغوی هر څه زغملای سي، مګر دين او اصول نه قرباني کوي. مسلمانانو ته لوی څښتن ﷻ د پيغمبر ﷺ په واسطه لارښوونه کړې ده. لکه چي فرمايي:

﴿فَلِذَٰلِكَ فَٱدۡعُۖ وَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَۖ وَلَا تَتَّبِعۡ أَهۡوَآءَهُمۡۖ﴾ [الشورى: ١٥].

ژباړه: «نو د همدې لپاره (پرله پسې) بلنه ورکوه او لکه څنګه چي حکم درته سوی دی (د لوی څښتن دين ته پر دعوت) باندي هماغسي ټينګ اوسه او د دوی په (فاسدو) غوښتنو پسې مه ځه».

د دين په چاره کي غوړمالي کول، بې ځايه رواداري، او د باطل سره سوله او مصالحت هغه خطرناکه کمزوري ده، چي دين او ايمان دواړه له منځه وړي. البته که مخاطب مسلمان وي او د جهالت له مخي په کوم ناوړه کار بوخت وي او ته په دې باندي باور لرې چي په وار د واره په سختي کولو سره به هغه نور لا هم پر ګناه ټينګ سي، نو که په دې صورت کي تاسي د هغه د جهالت په وړاندي تسامح غوره کړئ او په حکمت سره د هغه د کرار کرار پوهولو کوښښ وکړئ، نو په دې صورت کي دا غوړمالي نه ده. ځکه چي د جاهلانو پرخبرو باندي له اخلاقو کار اخيستل او مهرباني کول د اکثرو لويانو عادت دی. هغوی د جاهلانو پر حرکاتوباندي سختي نه کوي، بلکي په نرمي او تحمل سره کړنه ورسره کوي. ان چي ځيني وختونه د کم فهم خاوندان پر دې رويه باندي د غوړ مالۍ ګومان کوي، چي دا ګومان غلط دی. غوړمالي هغه ده چي د کوم دنيوي غرض لپاره وي خو که د ديني مصلحت لپاره وي، نو دا بيا غوره او ښه باله سي.

17- د دعوت او تبليغ په هلو ځلو کي دوام او تسلسل رامنځ ته کړئ، او هغه ترتيب چي لويانو جوړ کړی دی، په استقلال او مسؤوليت سره، پرله پسې پر مخ بوزئ. د هدغسي ترتيب پر نيمايي پرېښوولو او د نورو نوو نوو پروګرامونو د جوړولو له عادت څخه ځان وساتئ. لږ کار وکړئ، خو په پرله پسې توګه يې وکړئ.

رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

«غوره عمل هغه دی چي په پرله پسې توګه تر سره کيږي، که څه هم ډېر لږ وي».

18- تر پوهولو او تبليغ وروسته، سمدستي پر هغه باندي د عمل کولو هيله مه لرئ، بلکي ځان د يوه پوسته رسوونکي غوندي وګڼئ چي دنده يې په سليقه سره پيغام رسول وي.

19- د تبليغ يا د دين دخدمت اصلي ثمره، په آخرت کي ژغورنه او د خدایﷻ رضا تر لاسه کول وګڼئ. او خپله موخه د هغه اغېزه او ګټه مه ګڼئ. که ستاسي د هلو ځلو ظاهري ګټه محسوسه نه وي، يا لږ وي، نو په دې صورت کي مه خوابدي کيږئ. ځکه چي ستاسي کار او دنده هڅه او کوښښ دی او د نورو خلکو منل ستاسي له واکه وتلی کار دی. په هغو خبرو پسي تلل چي په واک کي نه وي، خپل ځان بې ځايه په تشويش کي اچول وي. اجر او ثواب يوازي پر هغه هڅه او کوښښ باندي دی چي په اخلاص سره وي.په دې چارو کي چي هر څونه بوختيا او تينګار وي، هغونه په هڅو او کوښښونو کي تينګښت او دوام وي.

20- که چیري پر خلکو باندي ستاسي خبري کومه اغېزه ونه کړي، نو په دې صورت کي مه خوابدي کېږئ. ځکه چي دا د نصیحت د پرېښوولو او نهیلۍ لامل ګرځي. دا کوچنۍ خبري دوني مهمي مه ګڼئ.

21- د دعوت او تبلیغ په لار کي رامنځ ته کېدونکو ستونزو، تکلیفونو او ازمېښتونو ته په ورین تندي هر کلی ووایاست. او په هکله یې صبر او استقامت څرګند کړئ.

لوی څښتن تعالیﷻ فرمایلي دي:

﴿وَأۡمُرۡ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَٱنۡهَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَآ أَصَابَكَۖ﴾ [لقمان: ١٧].

ژباړه: «او (په لطف او مهرباني او حکمت سره، د خپل وس سره سم) په نېکۍ امرکوه او له بدۍ څخه منع کوه او (په دې امر بالمعروف او نهي عن المنکر کي چي په ځانګړې توګه او په هر حالت کي چي په عامه توګه) هر څونه مصیبتونه، ستونزي او زوروني در باندي راسي پر هغه باندي صبر وکړه».

د حق په لارکي ستونزي او مشکلات هرو مرو را منځته کیږي. د انسان ایمان هغه وخت قوي کیږي او په اخلاقو او کړنه کي یې هغه وخت ښه والی او پیاوړتیا راځي، چي د ازمېښت له پړاوونو څخه تېر سي. دغه دلیل دی چي خدای تعالی خپل هغه بنده ګان هرومرو ازمیي چي د ایمان دعوه کوي. او څوك چي په خپل دین او ایمان کي هر څونه ټینګ وي، د هغه ازمېښت هم ډېر سخت وي.

لوی څښتنﷻ فرمایلي دي:

﴿وَلَنَبۡلُوَنَّكُم بِشَيۡءٖ مِّنَ ٱلۡخَوۡفِ وَٱلۡجُوعِ وَنَقۡصٖ مِّنَ ٱلۡأَمۡوَٰلِ وَٱلۡأَنفُسِ وَٱلثَّمَرَٰتِۗ وَبَشِّرِ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٥٥ ٱلَّذِينَ إِذَآ أَصَٰبَتۡهُم مُّصِيبَةٞ قَالُوٓاْ إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ

رَٰجِعُونَ ﴿١٥٦﴾ أُوْلَٰٓئِكَ عَلَيۡهِمۡ صَلَوَٰتٞ مِّن رَّبِّهِمۡ وَرَحۡمَةٞۖ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡمُهۡتَدُونَ ﴿١٥٧﴾﴾ [البقرة: ١٥٥-١٥٧].

ژباړه: «او ګورئ چې موږ تاسي خامخا په یو څه شي ازمویو؛ (کله، له دښمن څخه) په بېره، او (کله) په لوږه، او (کله) په مال او ځان او مېوو کي په کموالي (تاوان) سره. او (ای پیغمبره!) کوم کسان (چي په دغسي حالاتو کي) له صبر څخه کار واخلي هغو ته خوشخبري واوروه. (د ډېرو احسانونو او په جنت سره زېری ورکړه). دا هغه خلک دي چي کله کومه بخوله (مصیبت) پر راسي، نو (د ژړا او فریاد پر ځای) وایي چي: «موږ ټول (د خپلو شتو او اولادو سره) د الله یو، او ټول (له دنیا څخه) د الله لوري ته ور ګرځېدونکي یو». دا هغه خلک دي چي پر هغو باندي به د دوی د پروردګار له لوري (جلا جلا) ځانګړي پېرزویني (رحمتونه) وي، او د هغه رحمت به د هغو (ټولو په عامه توګه) د سر سیوری وي، او دغسي خلک پر سمه لار روان دي».

د رسول اللهﷺ دې وینا ته هم پام وکړئ:

له حضرت سعدرضي الله عنه څخه روایت دی چي یو چا لـه رسـول اللـهﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ای رسول الله! تر ټولو سخت ازمېښت په چا کیږي؟ رسول اللهﷺ ورته وفرمایل: «د مصیبتونو او ابتلاوو تـر ټولـو سخت ازمېښت په انبیاوو کیږي. بیا پـه هغـو کیـږي چـي پـه دیـن او ایمان کي انبیاوو ته ډېر نژدې؛ په دوهمه مرتبـه کـي وي. بیـا پـه هغـو کیږي چي دغوته نـژدې وي. همدغسـي مرتبـه پـه مرتبـه پـه اولیـاوو، علماوو او صلحاوو تر ټولو سخت ازمېښت کیږي. هر څـوک د هغـه د دیانت په کچه په ازمېښتونو مبتلا کیږي. نو هر څوک چـي پـر دیـن ډېر ټینګ او محکم وي، ازمېښت یې هـم سـخت وي او هغـه څـوک

چې په دين کې کمزورى وي، د هغه ازميښت هم ساده او آسانه وي. او دا ازميښت پر ديندراه او له لوى ځښتن څخه بېرېدونکی کس باندې تر هغه وخته پورې وي چې پر مځکه باندې ګرځي او پر هغه باندې د ګناه هيڅ اثر نه وي پاته» (مشکوٰة)

يو بل ځای رسول اللهﷺ خپل حال داسې بيانوي:

«زه د خدای تعالی په لار کې دونه په تکليف سوم چې هيڅ انسان دونه نه دی په تکليف سوی. او زه د خدای په لار کې دونه وبېرول سوم چې هيڅ سړی به دونه نه وي بېرول سوی او پر ما باندې دېرش ورځې او شپې داسې تېرې سوې دي چې زما او د بلال د خوړلو لپاره هيڅ داسې شی نه وو چې کوم ښاکښ دې وخوري، پرته له لږې توښې څخه چې د بلال په بغل کې وه» (بخارى)

بل ځای رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

«څوک چې د صبر کولو هڅه وکړي خدایﷻ صبر ور په برخه کوي. او تر صبر بل غوره شی نسته» (بخارى او مسلم)

خبره داده چې ازميښتونه او کوښښونه دواړه د دعوت د چارو د پياوړي کولو او پرمختګ لپاره اړين وسايل دي. هيڅ دعوت د ازميښتونو له ډول ډول پړاوونو څخه بې له تېرېدو نه سي بريالی کېدلای. په تېره هغه دعوت چې په انساني ټولنه کې يو نړۍ وال او هر اړخيز اوښتون (انقلاب) رامنځ ته کوي او پر نوو بنسټونو باندې د ټول انساني ژوندانه د ودانولو پلان لري.

هغه مهال چې د مکې مکرمې ظالمو مشرکينو پر رسول اللهﷺ او د هغه پر اصحابو باندې ډول ډول ظلمونه کول د هغو ورځو يوه واقعه حضرت خباب بن الارتؓ داسې بيانوي: «رسول اللهﷺ د

بيت الله شريفي تر سوري لاندي خپل پټو (څادر) تر سرلاندي کړی وو او آرام يې کاوه. موږ ده ته په شکايت ورغلو او ورته ومو ويل چي ای رسول الله! ته ولي له خدای تعالی څخه زموږ لپاره د مرستي غوښتنه نه کوې؟ او ولي د دې ظلم د پای ته رسېدو لپاره دعا نه کوې؟ (آخر به دا لړۍ تر څو پوري دوام مومي او کله به د دې مصايبو دوره ختميږي؟) رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: «ترتاسي دمخه داسي څوک هم تېر سوی دی چي ځا به يې ورته وکيندی او هغه به يې پکښي دراوه. بيا به يې په اره د هغه بدن اره کړ، خو سره له دې به هم هغه له خپل دين څخه نه اوښتی. دغه راز به يې د هغه په بدن د اوسپني ږمونځي ننه ايستلې چي دغه ږمونځي به د هغه تر غوښو ووتلې او تر هډوکو او پلو پوري به يې ورسېدلې. مګر بيا به هم دغه د خدای تعالی بنده له حق څخه نه پر شا کېدی. په خدایﷻ لوړم چي دا دين به تر دې کچي غالب کيږي چي سپور مسافر به (د يمن د پلازمېني) صنعاء څخه تر حضرموت پوري سفر کوي او پر لاري به پرته له خدایﷻ څخه د بل هيچا بېره نه وي ورسره. البته چوپانانو ته به يوازي د خپلو پسونو په هکله انديښنه وي چي شرمښان يې ځني ونه خوري. مګر افسوس چي تاسي تلوار کوئ» (بخاری).

حضرت معاويهرضي الله عنه وايي چي ما له رسول اللهﷺ څخه اورېدلي دي چي فرمايل يې: «زما په امت کي به تل يوه ډله داسي موجوده وي چي د خدای تعالی د دين ساتونکي به وي. هغه خلك چي نه ور سره يو ځای کيږي او هغه خلك چي مخالفت يې کوي څه تاوان نه سي ور رسولای. دغه د دين ساتونکي به تر هغو چي د الله پرېکړه کيږي پر خپل دې کار باندي ټينګ ولاړ وي» (بخاری او مسلم)

22- ډېر وختونه له لږي بې احتیاطۍ څخه د ګټې تر څنګ تاوان هم رامنځته کیږي. له دې امله باید هر وخت احتیاط وسي. ډېر خلك د تبلیغ کولو په جوش کي د دې پروا نه کوي چي یو مسلمان بې پردې کیږي. په دې توګه مسلمان بې عزته سي. په داسي حال کي چي د مسلمان عزت او آبرو ډېر ستر ارزښت لري.

نبی اکرمﷺ فرمایلي دي:

«هغه څوك چي د یوه مسلمان پرده کوي، خدای تعالی به په دنیا او آخرت کي د هغه پرده وکړي. او خدای تعالی د هغه بنده سره مرسته کوي چي هغه د خپل ورور مرسته وکړي» (مسلم).

له دې امله ډېره مهمه ده چي مبلغین دې خبري ته ډېره پاملرنه وکړي چي په نهی عن المنکر کي د چا بې عزتي ونه کړي.کوم منکر چي په پټه تر سره کیږي، هغه باید همدغسي پټ وساتل سي، خو بد وګڼل سي او د بدلون او منع کولو کوښښ یې وسي. او کوم منکرچي په ښکاره تر سره کیږي هغه باید په ښکاره توګه بد وګڼل سي او د له منځه وړلو کوښښ یې وسي. په دغسي حالت کي هم باید حتی الوسع د منکر د ترسره کوونکي عزت او آبرو په نظرکي ونیول سي. داسي نه چي «نیکي برباد، ګناه لازم» سي. مطلب دا چي د منکر انکار هرومرو باید وسي. خو باید چي د مسلمانانو عزت او آبرو ته جدي پام وسي.

د دې ترتیب داسي دی چي کومه ګناه چي په ښکاره توګه تر سره کیږي، هغه دي په ښکاره توګه وغندل سي او بده دي وګڼل سي.

خوکه کومه ناوړه چاره د هغې د ترسره کوونکي لخوا په پټه تر سره کیږي، نو هغه باید داسي وغندل سي چي افشا نه سي.

23- په تبلیغ کي نزاعي مسایل یا فرعي خبري مه څیړئ، بلکي یوازي د اصلي توحید لوري ته خلك بولئ او د اسلام ارکان ورته تبلیغوئ.

24- د کومو وګړو په منځ کي چي د دعوت او تبلیغ غوره فریضه تر سره کوئ د هغو د مذهبي معتقداتو او ولولو درناوی او لحاظ کوئ. د هغو لویان او لارښوونکي په بد نامه مه یادوئ، مه یې پر معتقداتو باندي تیری کوئ، او مه یې مذهبي نظریې تحقیروئ. خپل دعوت په ښه او مثبته طریقه او حکمت سره ورته وړاندي کړئ او په انتقاد او اعتراض کي هم د خلکو د تحریکولو پر ځای، په ډېر زړه سوي سره د هغو په زوړنو کي د خپلو خبرو د اچولو هڅه وکړئ. ځکه چي په جذباتي اعتراضونو او توهین آمیزو خبرو په مخاطب کي د کوم ښه بدلون هیله نه سي کېدای، بلکي کېدای سي چي هغه د جاهلیت او تعصب په جوش کي د خدای ﷻ او د دین په شان کي بې ادبي وکړي او دین ته د نژدې کېدو پر ځای، نور هم ځني لیري سي.

په قرآن کریم کي په دې اړه د لوی څښتن ﷻ ارشاد دی:

﴿وَلَا تَسُبُّواْ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَسُبُّواْ ٱللَّهَ عَدْوًۢا بِغَيْرِ عِلْمٍۗ﴾

[الأنعام: ١٠٨].

ژباړه: «او ای مومنانو! هغو بتانو او معبودانو ته چي مشرکان یې له الله پرته بولي ښکنځل مه کوئ. چي داسي ونه سي چي دغه مشرکان (په

غوسه سي) په شرک کي په نور وړاندي تګ (او تېري) سره، د ناپوهۍ له امله خدای ته بد ووايي».

25- د دعوت او تبليغ پر مهال او تر دې دمخه او وروسته دا فکر وکړئ چي دا د خدایﷻ ستره پېرزوينه ده چي ماته يې د دې خدمت کولو توفيق راکړ، چي په هغه کي زما خپله فلاح او ښېګڼه ده. که نه نو زه چيري د دې وړ وم چي داسي خدمت تر سره کړم. دا خبره دونه په ياد کړئ چي خلکو ته د دين ښوولو په وخت کي مو په ذهن کي پاته وي.

26- د تبليغ حدود، فرض، واجب، مستحب او ممنوع (په زده کړه او د کتابونو په مطالعه يا) له ماهرو علماووکرامو څخه په پوښتنه کولو سره معلوم کړئ. څو په تبليغ کي له حدودو څخه تجاوز ونه سي.

27- د تبليغ، وعظ او نصيحت پر مهال او له هغه څخه دمخه او وروسته داسي دعا کوئ: ای لويه خدايه! په دې وعظ، نصيحت او تبليغ کي د ريا، لويۍ او کبر او هر ډول شر څخه ما او اورېدونکي وساتې او له دې تبليغ څخه ما او اورېدونکو ته ګټه ورسوې.

28- په اوونۍ کي دوې ورځي د دعوت او تبليغ لپاره وټاکئ. يوه ورځ په خپله سيمه کي تبليغ کوئ او بله ورځ بل ځای ته د تبليغ لپاره ځئ.

## د داعي فکر او عمل

1- د خپلي دندي او کار په هکله رشتيانی شعور پيدا کړئ، زموږ

دعوتګرانو څخه هر یو د رسول اللهﷺ ځای ناستی دی، او تاسي د دین د دعوت، د حق د ځرګندولو او د تبلیغ هغه فریضه سرته رسوئ، چي د خدای رسولﷺ سر ته رسول. ځکه نو د هغه داعیانه جوش او ولولې پیدا کولو هڅه وکړئ چي د رسول اللهﷺ ځانګړی او امتیازي صفت دی.

2- د خپل نصب العین (دین) په هکله رشتیانی علم تر لاسه کړئ او په پراخه توګه د هغه د خپلولو او هضمولو هڅه وکړئ. د خدایﷻ په نظر کي د مسلمان امت نصب العین په قطعي توګه دادی چي په بشپړ ډاډ او اخلاص سره هغه دین په بشپړه توګه قایم او نافذ کړي چي رسول اللهﷺ راوړی دی، او پر عقایدو، عباداتو، اخلاقو او ټولنیزو، اقتصادي او سیاسي چارو، لنډه دا چي د انساني ژوندانه په اړه پر ټولو آسماني لارښوونو مشتمل دی. رسول اللهﷺ په خپل مبارك ژوند کي دغه دین د خپلو ټولو تفصیلاتو سره قایم او نافذ کړی وو.

3- د اسلام د ژور بصیرت د تر لاسه کولو هڅه وکړئ. او دا باور ولرئ چي د خدایﷻ په وړاندي دین بس یوازي همدغه اسلام دی. که د دې دین پر ځای د بنده ګی بله هره طریقه غوره کړئ، د خدایﷻ په وړاندي به هیڅ قدر او ارزښت و نه لري. د خدایﷻ په وړاندي همدغه دین چي په قرآن کریم او نبوي سنتو کي بیان سوی دی، منلی دی او عملي تفسیر یې رسول اللهﷺ په خپل مبارك ژوند سره وړاندي کړی دی.

4- د دین د صحیح فهم د ترلاسه کولو او د دین په حکمتونو باندي دپوهېدولو لپاره پرله پسې هڅې وکړئ.

رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

«مَنْ يُرِدْ اللَّهُ بِهِ خَيْرًا يُفَقِّهْهُ فِي الدِّينِ» (بخارى او مسلم).

ژباړه: خداى تعالى چي كوم سړى ته په خير سره د نازولو اراده وكړي، نو يې فقيه كړي، يعني هغه ته د خپل دين د فقاهت او صحيح فهم ښېګڼه ور په برخه كړي.

حقيقت داداى چي د دين صحيح فهم او د دين حكمت د ټولو ښېګڼو سر چينه ده. څوک چي له دې خير او ښېګڼي څخه بې برخي وي، هغه د دواړو نړيو له نېكمرغيو څخه بې برخي وي. نه د هغه په ژوند كي كوم توازن او سمون پيدا كيږي او نه د ژوندانه په كوم ډګر كي د فلاح او نېكمرغۍ سم استازيتوب كولاى سي.

5- د دين لپاره هر ډول قربانۍ ته تيار سئ او كه چيري اړتيا پيدا سي له خپل ګران هيواد څخه د هجرت كولو لپاره هم ځان چمتو كړئ او خپل ځان په پرله پسي توګه تلئ او ازماياست چي تر كومي اندازې پوري په تاسي كي د غي ولولې پياوړتيا موندلې ده.

6- په خپل هر عمل كي د خداىﷻ د رضا او خوشالۍ او د آخرت د ژغورني او مغفرت نيت وكړئ. دې ته اخلاص وايي. له اخلاص څخه پرته هيڅ عمل د قبلېدو وړ نه دى. له مخلوق څخه د ځان په هكله د ستايني له اورېدلو، د هغو په زړه كي د خپل ستر توب له پيدا كولو، يا له هغو څخه د مالي ګټي د تر لاسه كولو له نيت څخه په كلكه ډډه وكړئ. دا ټوله ريا ده او په ريا سره نېكي له منځه ځي.

7- هر څه چي د دعوت په موخه نورو ته وړاندي كوئ، لومړى

خپل ځان د هغه مخاطب کړئ. هغه خبري چي بل ته يې کوئ، لومړی يې خپل ځان ته وکړئ، او هر څه چي له نورو څخه غواړئ، لومړی يې تاسي خپله په عمل کي وښياست. د دين د داعي امتياز دادی چي هغه خپله د خپل دعوت رشتينې بېلګه وي. هر څه چي وايي، بايد خپل عمل او کړنه يې پر هغه باندي شاهدي ور کړي. څوک چي د کومو حقيقتو نو په قبلولو کي د نړی ښېګڼه ويني، خپله

د هغو تر ټولو ډېرحريص او غوښتونکی وي. هر پيغمبرچي به خپل قوم ته د دعوت ورکولو لپاره پاڅېدی، لومړی به يې دا علان وکړ چي ﴿أَنَا۠ أَوَّلُ ٱلۡمُسۡلِمِينَ﴾ «زه پخپله تر ټولو لومړی مسلمان يم».

د دې سره سره په خوله او قلم هم دا شاهدي ورکړئ چي حق هغه دی چي زه يې درته وړاندي کوم. او په خپل انفرادي عمل، کورنيو اړيکو او ټولنيزو چارو هم دا ثابته کړئ چي په رشتيانی توګه د اسلام د حق دين په خپلولو او پلي کولو سره سپېڅلي کړه وړه رامنځته کيږي؛ ښه او وياړلې کورنی رامنځ ته کيږي او ښکلې، روغه، له ناخوالو پاکه، متمدنه او پر مخ تللې ټولنه جوړيږي او يو داسي نظام، تهذيب او تمدن تشکيليږي چي بنسټ يې پر عدالت او انصاف ولاړ وي. کوم خلك چي له خپلي تربيې او اصلاح څخه بې خبره وي او د نورو د اصلاح او تربيې خبري کوي، تر هغه بل ناپوه نسته. هغه خپل کور د سوزېدو په حال کي ويني، خو بيا يې هم د اوبو سطلونه اخيستې وي او ګوري چي که چيري د چا کوم کور اور اخيستی وي، هغه ووژني!! داسي خلك په دنيا کي هم ناکامه وي او په آخرت کي به هم د ناکامی سره مخامخ وي. دلته د دوی همدغه

پخپله نه عمل کول د هغو دعوت او نصیحت بې وزنه او بې اغېزي کوي او په آخرت کي به پخپله د عمل نه کولو له امله په ډېر عبرت ناك عذاب اخته سي. خدایﷻ په دې ډېر ناراضه کیږي چي څوک بل ته د یو کار په هکله نصیحت کوي، خو خپله عمل نه په کوي وي. حضرت رسول اللهﷺ هم داسي بې عمله داعي له سخت عذاب څخه بیروي.

رسول اللهﷺ فرمایلي دی:

«د قیامت په ورځ به یو سړی راوستل سي او اور ته به واچول سي، د ده کولمې به له اور څخه دباندي راووزي. بیا به دغه سړی خپلي کولمې په داسي ډول راټولوي، لکه په خره چي ژرنده ګرځوي. د دې په لیدو به نور دوږخیان پر ده باندي را ټول سي، او پوښتنه به ځني وکړي چي ای فلانیه! دا ستا څه حال دی؟ آیا ته هغه نه یې چي په دنیا کي به دي موږ ته د ښوکارونو کولو تلقین او لارښوونه کول او له بدو کارونو څخه به دي منع کولو؟ (نو ته پرداسي نېکو کارونو سر بیره دلته څنګه راغلې؟). هغه سړی به ورته ووایي:ما به تاسي ته د نېکۍ کولو درس درکاوه، خوخپله به مي نېکي نه کول.تاسي مي له بدو کارونو څخه راګرځولاست، خوخپله مي ترسره کول» (مسلم، بخاری)

د معراج په شپه چي رسول اللهﷺ کومي عبرت ناکي منظرې لیدلي وې او هغه یې خلکو ته بیانولې،له هغو څخه یو هدف دا هم وو چي د سمو کارونو پرېښوونکي او د ناسمو کارونو تر سره کوونکي پوه او تنبیه سي او هغوی د خپلو ځانونو د اصلاح کولو په هکله فکر وکړي.

رسول اللهﷺ فرمايي:

«ما د معراج په شپه ځيني خلك وليدل چي د هغو شونډان د اور په غچيو پرې کېدل. ما له جبرائيلعليه السلام څخه پوښتنه وکړه چي دا څوك دي؟ جبرائيلعليه السلام راته وويل: دا ستا د امت واعظان دي. دوی به خلکو ته د نيکۍ کولو او تقوٰی تلقين کاوه، خو خپل ځانونه يې هېر کړي وه» (مشکوٰة)

8- څنګه چي رسول اللهﷺ په خپل قول او عمل او په پرله پسې منډو ترړو سره د خدایﷻ د دين د واضح کولو او رسولو حق ادا کړی دی، نو د هغه امتيانو ته هم ښايي چي په دغسي توګه د نړۍ ټولو انسانانو ته د خدایﷻ دين ورسوي او ورته واضح يې کړي. او د غاړي د فريضې د ادا کولو په دغسي احساس او داعيانه کړنو او څرګندونو سره د الله د دين ملاتړي سي.

9- خپل کړه وړه، کالي او لباس، ژوند ژواک او معاملې د شريعت د حدودو او احکامو سره سمي تنظيم کړئ. په دې هکله پوهه او علم له داسي کتابونو څخه ترلاسه کړي چي د ښو او پاکو معاملو او کړنو، دين ښووني او ناوړو دودونو د اصلاح او سمون په هکله ليکل سوي وي. د دې ترڅنګ د لوېديځوالو په پېښو او تقليد د سر او صورت او ږيري د جوړولو او سمبالولو څخه په کلکه ډډه وکړئ. ږيره مو د يوې قبضې په اندازه پرېږدئ او تر دې کچي له لنډولو څخه يې په سختۍ سره اجتناب وکړئ.

10- خپل اصل حيثيت تل په پام کي نيسئ، او د هغه سره سم د

خپل ژوند د برابرولو او سمبالولو کوښښ وکړئ. ځکه چي دا امت د نړۍ د عامو امتونو په شان یو امت نه دی، بلکي دې امت ته خدای تعالی یو ځانګړی او امتیازی حیثیت ور بخښلی دی. دې امت ته د نړۍ په ټولو ولسونو کي د لارښووني مقام ورکړه سوی دی. ځکه نو باید له هر ډول افراط او تفریط څخه لیري اوسئ او د خدایﷻ پر ښوول سوې مستقیمه لار باندي په اعتدال او منځ لاري سره روان او سئ.

11- د دعوت او تبلیغ عظمت او ارزښت تل په پام کي نیسئ. او دا فکر کوئ چي دا هغه ستر او سپېڅلی کار دی چي د هغه لپاره خدای تعالی خپل پیغمبران را پاڅولي دي. او باور وکړئ چي خدایﷻ چي موږ ته د دین کوم عزت او ویاړ راپه برخه کړی دی، دا د دواړو نړیو د عظمت او سر لوړۍ پانګه ده. نو تاسي فکر وکړئ چي د دې په وړاندي به د نړۍ د مادي شتو او شان او شوکت څه قدر او قېمت وي، کوم چي فقط یو څو ورځي وي.

12- د بدیو د له منځه وړلو او د نېکیو د رامنځ ته کولو او خپرولو لپاره تل ملا تړلي اوسئ. ځکه چي دا د ایمان غوښتنه ده او دا د دې امت د ملي شتون موخه باله سي. د دې هدف لپاره ژوندي او سئ او د دې لپاره تر سر تېرسئ. د دې کار د تر سره کولو لپاره خدایﷻ دا امت د «خیر امت» په ستر لقب سره سر لوړی کړی دی. د الله تعالی ارشاد دی:

﴿كُنتُمۡ خَيۡرَ أُمَّةٍ أُخۡرِجَتۡ لِلنَّاسِ تَأۡمُرُونَ بِٱلۡمَعۡرُوفِ وَتَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡمُنكَرِ وَتُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِۗ﴾ [آل عمران: ۱۱۰].

ژباړه: «تاسي (ای د محمد امتیانو!) اوس په نړۍ کي هغه ډېر غوره او د انسانانو لپاره ډېره ګټوره ډله یاست چي د انسانانو د لارښووني، (اصلاح او ښېګڼې) لپاره منځ ته راوړل سوې ده. تاسي د نېکۍ (یعني د هغو چارو چي شرعاً او عقلاً ښه ګڼل سوي دي) امر کوئ او له بدو (یعني د هغو کارونو څخه چي شرعاً او عقلاً ناوړه بلل سوي دي) منع کوئ او پرخدای (داسي صحیح او رشتینی) ایمان لرئ (چي په عمل کي یې ثابتوئ)».

13- خلکو ته د خدایﷻ د پیغام د رسولو او د دوږخ له سخت عذاب څخه د خدایﷻ د بنده ګانو د ژغورلو لپاره په ځان کي داعیانه ولولې او زړه سوی پیدا کړئ.

حقیقت دادی چي د ګناه کارو بنده ګانو په غم کي اوسېدل، د هغو پر ګناه او معصیت باندي خوابدی کېدل، د خدایﷻ له قهراو غضب څخه د هغو د ژغورلو په اړه په تپاک او ناکراري سره، هلي ځلي کول، د هغو د ربړو او تکلیفونو په لیدلو سره خواشنی کېدل او د هغو د لارښووني لپاره لاري چاري لټول، دا د یوه رشتیاني داعي هغه جوهر دی چي د هغه ژوند زښت زیات اغېزناک، خوندور او ګټور کوي

14- له عیاشۍ، آرام طلبۍ او د غفلت او بې خبرۍ له ژوند څخه ځان وساتئ. او د حق یو داسي سرتېری له ځانه جوړ کړئ چي تل په خپله دنده بوخت وي او هیڅ وخت وسله نه غورځوي.

15- د دین ښوولو یا بیانولو په وخت کي خپل ځان د هغه

جارچي يا مامور په شان وګڼئ چي يو دولتي حکم اعلانوي. او هغه څوك چي پوهوئ ترځان غوره او لوړ وګڼئ.

16- د عامو مسلمانانو سره په ډېره تواضع او عاجزي کړنه کوئ. خبري په نرمه لهجه او ادب کوئ او خوږې خبري کوئ. هيڅ مسلمان ته په خوار او د کرکي په نظر مه ګورئ، په تېره د دين د علماوو په عزت او درناوي کي کوتاهي مه کوئ. څنګه چي پر موږ باندي د قرآن کريم او نبوي احاديثو عزت او احترام واجب او ضروري دی، همدغسي د دغو سپېڅلو هستيو عزت او درناوی هم اړين دی. دغه اسلامي عالمان دي چي لوی څښتنﷻ په خپل لوی نعمت (علم او عمل) سره سر لوړي کړي دي. د رشتيانيو او د حق دعلماوو سپکاوی، د دين د سپکاوي سره برابر دی. چي د خدایﷻ د قهر او غضب لامل ګرځي.

17- خپل ځان تر ټولو ټيټ ګڼئ او خپل صالح اعمال د خدایﷻ نعمت وګڼئ او په ښه توجه او پاملرنه سره يې د قرآن او سنتو سره سم تر سره کوئ. په دې توګه خپل ځان د پاچا دماڼۍ يو خزانه دار فرض کړئ چي پاچا يو څه ارزښت ناکه مرغلري د ساتلو لپاره ورسپارلي وي او هغه په ډېر احتياط سره ساتي، نو هغه خپل ځان زېرمه وال (خزانه دار) ګڼي او مرغلري، مرغلري بولي.

18- کومي چاري چي ستاسي د طبيعت سره سمي درپېښي سي، هغه د خدایﷻ فضل وګڼئ، خپل استحقاق يې مه بولئ. دې ته شکر وايي ؛ يعني د نعمت قدر کول. د شکر په ادا کولو

سره په نعمت کي پرمختګ رامنځ ته کیږي. او کومي چاري چي ستاسي د طبیعت خلاف در پیښي سي، هغه د ځان لپاره د ترخو درملو غوندي ګڼوري وګڼۍ. دې کار ته هم صبر وايي. او په صبر سره انسان خدایﷻ ته نژدې کیږي. البته د خدایﷻ په دربار کي د دې ستونزو او د طبیعت خلاف کارونو د لیري کولو لپاره په ډېره عاجزي او تواضع سره دعا وکړئ. دعا کول د صبر خلاف نه بلل کیږي.په دې ډول د ستونزو د لیري کولو لپاره تدابیر سنجول، درملنه کول یا د خپلو ستونزو ښکاره کول او حال ویل هم د صبر خلاف نه بلل کیږي، هو! په زړه یا په خوله اعتراض کول هرومره د صبرخلاف باله سي.

19- په هر حال کي خدایﷻ ته شکر کاږئ، البته په ځان کي د شکر د ولولې پیدا کولو لپاره یوه آسانه طریقه داده چي هغو خلکو ته وګورئ چي په دنیوي شان او شوکت او په مال او شتو کي تر تاسي کښته وي. رسولﷺ فرمایلي دي:

«هغو خلکو ته وګورئ، چي په مال، شتو او په دنیاوي جاه او مرتبه کي تر تاسي کښته دي. (د دوی په لیدو سره به په تاسي کي د شکر د ادا کولو ولوله پیدا سي). او هغو خلکو ته مه ګورئ چي له تاسي څخه په مال او شتو او دنیوي ساز او سامان کي لوړ وي. څو هغه نعمتونه چي اوس تاسي ته درکول سوي دي، ستاسي له نظره لېږ او خوار ښکاره نه سي. (که نه نو د خدای تعالی د نا شکرۍ احساس به در پکښي پیدا سي)».

20- دې ته مو باید ډېر پام وي چي په خپله ژبه، لاس، کار او

کړنه کوم انسان ته څه ډول ضرر او اذیت ونه رسوئ. که چیري دغسي کوم تاوان درڅخه تر سره سي، نو د شریعت د حکم سره سم د هغه تلافي خپله فلاح او کامیابي وګڼئ. او په دې کي شرم او حیا مه کوئ. داسي شرم او حیا ښه کار نه، بلکي تکبر دی.

21- لمونځ په بشپړ ادب، د هغه د ټولو حقوقو او شرایطو سره، په مینه او اخلاص ادا کوئ. نفلونو ته هم ډېره پاملرنه کوئ. د الله تعالی سره له ژورو اړیکو ټینګولو پرته د دین د دعوت او تبلیغ کار ممکن نه دی. او د الله سره د اړیکو د پیدا کولو یقیني ذریعه لمونځ دی. کوم چي خپله لوی څښتنﷻ خپلو بنده ګانو ته د هغه د ادا کولو امر کړی دی.

22- د قرآن کریم سره ډېره مینه او محبت کوئ. په هغه باندي هم عمل کوئ او هم یې تلاوت کوئ. په لمانځه کي یې هم په ډېر شوق سره تلاوتوئ. کوم تلاوت چي د زړه په چمتو والي او د طبیعت په حضور کیږي، له هغه څخه د قرآن کریم په پوهېدلو او په غور او فکر کولو کي هم ډېره آسانتیا رامنځته کیږي. او په لېوالتیا او شوق کي هم ډېر والی راځي.

زموږ سترلارښوودﷺ فرمایلي دي:

«زړونه داسي زنګ و هي، لکه پر اوسپنه باندي چي اوبه توی سي او زنګ یې ووهي». پوښتنه څني وسوه: چي ای رسول الله! نو بیا د زړونو زنګ څه شی لیري کولای سي؟ هغهﷺ ورته وفرمایل: «د زړه زنګ په دې ډول سره لیري کیږي چي یو څوک خپل مرګ ډېر ډېر یاد کړي او د قرآن کریم تلاوت وکړي» (مشکٰوة)

23- د قرآن کريم د صحيح ويلو په هکله بايد ډېره پاملرنه وکړئ. لږ تر لږه هغه سورتونه چې په ياد مو زده کړي دي او په لمانځه کې يې عادتي واياست، بايد ښه صحيح زده کړئ. د کوم صحيح ويونکي قاري څخه قرآن کريم په صحيح توګه زده کړئ. د «جمال القرآن» د رسالې له مطالعه کولو څخه ډېره ګټه اخيستل کيږي. د دې رسالې په مطالعه کولو سره د قرآن کريم په ويلو کې هم آسانتيا رامنځته کيږي.

24- خپل د فراغت وختونه د درواغو ويلو، غيبت، جنګ او فساد پر ځای د ديني کتابونو په لوستلو سره او په مذهب د پابندو خلکو سره په ناسته او مجلس کې تېرکړئ. څو له هغو څخه د خدایﷻ او رسولﷺ خبري در ته څرګندي سي. په ځانګړې توګه د تبليغ په ورځو کې له بې کاره خبرو او له بې ځايه کارونو څخه ډډه وکړئ. او خپل د فرصت وختونه د خدای تعالیﷻ په عبادت، ذکر، فکر، درود، دعا، استغفار او په تعليم او تعلم کې تېر کړئ.

25- دا خبره په ياد ولرئ او د اړتيا په وخت کې يې خلکو ته وکړئ چې زموږ ټولو اصلي موخه دين زده کول او نورو ته ورښوول دي. دغه خدمت بېلي بېلي ډلي په بېلو بېلو طريقو سره تر سره کوي. خو پخپله هيڅ يوه طريقه د دين له مقاصدو څخه نه بلل کيږي.

ځکه نو د يوې ځانګړي طريقې غوره کول لازم او اړين نه دي. هرڅوك چې د هري طريقې سره مناسبت ولري په هغه ډول سره دي خدمت کوي. البته هيڅ طريقه بايد د دين د اصولو خلاف نه وي. که

چیري د چا د کومي طریقې په هکله کوم شک وي، نو د هغې په هکله دي له کوم محقق عالم څخه پوښتنه وکړئ او د هغه د لارښووني سره سم دي عمل وکړي. په دې هکله ډېر بحث او مباحثه مه کوئ.

26- کله چي ښه عملونه تر سره کړئ، په تېره هره شپه د بیدېدو پر مهال دا دعا کوئ چي:

ای لویه څښتنه! تر کومه ځایه چي زما وس رسېدی ما ستا لارښووني عملي کړې. خو بیا هم زما اعمال لکه څنګه چي ښایي هغسي نه دي. په هغو کي خطا وي او کوتاهی‌را وبخښې او دغه ناقص عملونه مي قبول کړې.

دغه دعا په ډېر عجز سره کوئ او پر ځان باندي یې لازمه وګڼئ.

## د داعي اوصاف

1- اخلاص: د اخلاص نخښه داده چي که چیري یو څوك چي د خپلي خوښي سره سم کار کوي اړ سي چي دغه کار په کومه بله طریقه ـ البته چي جایزه وي ـــ تر سره کړي، نو بیا هم خوښ وي چي ښه سو چي دا کار تر سره سو، خو که د خپلي خوښي پرته په بله طریقه کار ورته ستونزمن سي او ووایي چي دا کار ولي په دې طریقه کوم، نو دا د نه اخلاص نخښه ده. بلکي له دې څخه دا څرګندیږي چي موږ د دنیا لپاره کار کوو. چي البته دغه حالت د اصلاح کولو وړ دی. دا هغه ناروغي ده چي ښه عملونه د منلو وړ نه ګڼي. نو له درنو مبلغینو څخه هیله کیږي چي خپله هره وینا او لیکنه په خلوص او اخلاص

وړاندي کړئ. ځکه يو عمل چي د اخلاص سره مل وي، که هر څونه لږ هم وي ډېري ديني او دنيوي ثمرې لري، خو له اخلاص پرته نه په دنيا کي کوم اثر لري او نه په آخرت کي کوم اجر.

زموږ پيغمبرﷺ فرمايلي دي:

«إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى صُوَرِكُمْ وَأَمْوَالِكُمْ وَلَكِنْ يَنْظُرُ إِلَى قُلُوبِكُمْ وَأَعْمَالِكُمْ» (مشکٰوة عن مسلم)

ژباړه: خدای تعالی ستاسي صورتونو او مالونو ته نه ګوري، بلکي ستاسي زړونو او عملونو ته ګوري.

په يوه بل حديث شريف کي راغلي دي چي يو چا له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چي ايمان څه ته وايي؟ رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: «ايمان اخلاص ته وايي».

همدارازپه يوه بل حديث کي راغلي دي چي رسول اللهﷺ معاذ رضي الله عنه د يمن حاکم وټاکی. هغه د رسول اللهﷺ څخه د لږ نصيحت کولو هيله وکړه. رسول اللهﷺ ورته وفرمايل: «د دين په کارونو کي له اخلاص څخه کار اخله. ځکه لږ عمل هم چي په اخلاص سره وي کفايت کوي».

په يوه بل حديث کي راغلي دي چي خدای جل جلاله په عملونو کي يوازي هغه عمل قبلوي چي يوازي د ده لپاره تر سره سوی وي.

په يوه بل حديث کي راغلي دي چي لوی څښتن جل جلاله فرمايلي دي:

«زه د ټولو شريکانو له شرکت څخه بې پروا يم (يعنی په دنيا کي خلك د شريکانو په شرکت باندي راضي وي، خو زه خلاق علی الاطلاق يم. له هر شي څخه بې پروا يم او په عبادت کي د بل چا

شرکت ته هيڅ اړتيا نه لرم). کوم څوك چي کوم داسي عمل وکړي چي په هغه کي زما سره بل څوك هم شريك کړي، نو زه هغه څوك د هغه شريك ته پرېږدم». په بل روايت کي دي چي«زه له هغه څخه بې زاره کيږم» (مشکٰوة عن مسلم)

په بل حديث کي راغلي دي:

«د قيامت په ورځ به د حشر په ميدان کي يو آواز کوونکى په لوړ آواز سره وايي: چا چي په کوم عمل کي د لوى څښتن سره کوم بل څوك شريك کړى وي، د هغه کار ثواب او عوض دي هم له هغه څخه وغواړي. خداى د ټولو شريکانو له شرکت څخه بې پروا دى».

له دې امله ډېره مهمه او اړينه خبره ده چي درانه مبلغين په خپلو ټولو کارونو کي د الله ﷻ رضا، د هغه د دين خپراوى، او د رسول الله ﷺ د سنتو اتباع خپله موخه وګرځوي. شهرت، عزت، او ستايني ته دي په زړه کي هيڅ ځاى نه ورکوي. که مو چيري يو وخت د دې شيانو خيال په زړه کي دروګرځي، نو د لا حول او استغفار په ويلو سره يې اصلاح کړئ.

داعي بايد نه يوازي د خداى ﷻ سره، بلکي د عامو مسلمانو سره هم مخلص وي. د هغو سره بايد د زړه له تله مينه او خواخوږي ولري. تل بايد د هغو د ژغورني په فکرکي اوسي. او دا پېرزوينه بايد دونه واضح وي چي د ده هره خبره، که هر څونه په سخته لهجه سره هم وي، خو بيا يې هم مسلمان د ځان لپاره خير وګڼي. او په دې په بشپړه توګه ډاډه وي او باور ولري چي ده ته نصيحت کوونکى سړى د ده په خير خبري کوي. خداى تعالى دي موږ ټول په دغسي اخلاص او خير غوښتنه وپسولي. آمين يا رب العالمين.

2- صحيح علم ترلاسه کول: داعي ته ضروري ده چي د اسلامي علومو له نعمت څخه په بشپړه توګه برخمن وي. او د اسلام د دين د احکامو او اوامرو او نواهيو په هکله يې بايد دونه علم تر لاسه کړی وي، چي په هره مرحله کي صحيح لارښوونه وکړای سي. که نه نو لږ تر لږه خو بايد د هغو خبرو په هکله صحيح علم ولري چي خلکو ته يې بلنه ورکوي. که چيري داعي ته د اړتيا وړ مسايلو په باب صحيح علم حاصل نه وي، نو به د «نېکي برباد، ګناه لازم» مصداق سي، او دعوت غوندي ډېره مهمه دنده به په صحيح معنا تر سره نه سي. بلکي د مخاطبينو او پخپله د داعي د ګناه کاره کېدو او ګمراه کېدو انديښنه به وي. له دې امله رسول اللهﷺ فرمايلي دي:

«طلب العلم فريضة على كل مسلم» (ابن ماجه)

ژباړه: د علم زده کړه پر هر مسلمان (نارينه او ښځه) باندي فرض ده.

څنګه چي هر مسلمان په يو ډول نه يو ډول د خدایﷻ لوري ته بلونکی دی، ځکه نو پر هر مسلمان باندي لږ تر لږه د ورځينو چارو او مسايلو علم تر لاسه کول اړين باله سي.له دې امله لاندي کتابونه، يا له هغو څخه چي هر يو په لاس درسي مطالعه کړئ، او په هغو کي چي په کومه خبره باندي نه پوهېږئ، د هغې په هکله له کوم پياوړي عالم څخه پوښتنه وکړئ.

1- حيات المسلمين.

2- تبليغ دين.

3- تسهيل قصد السبيل.

4- اصلاح الرسوم.
5- حقوق الاسلام.
6- سيرت خاتم الأنبياء.
7- بهشتي زيور.
8- آداب المعاشرت.
9- تعليم الدين.
10- حياة صحابة.
11- صفايي معاملات.
12- جزاء الأعمال.
13- فروغ الإيمان.
14- علامات قيامت.
15- محاسن اسلام.
16- نشر الطيب.
17- فضائل اعمال.
18- فضائل ذكر.
19- فضائل صدقات وغيره.
20- مواعظ و ملفوظات حضرت حكيم الامت حضرت مولانا تهانوي رحمه الله.

3- صبر او تحمل: لوى ښښتن جل جلاله فرمايلي دي:

﴿وَٱلۡكَٰظِمِينَ ٱلۡغَيۡظَ وَٱلۡعَافِينَ عَنِ ٱلنَّاسِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ١٣٤﴾ [آل عمران: ١٣٤].

ژباړه: «او هغه چي غوسه زغمونكي او د خلكو له (بدۍ او لنډ پارۍ څخه) تېرېدونكي (او بخښونكي) دي، داسي نېكان خلك د خداى ډېر خوښ دي».

د داعي يو اصلي صفت صبر او تحمل (زغم) هم دی. له دې پرته هيڅوک د دعوت غوندي درنه دنده نه سي تر سره كولاى. د اصلاح او دعوت ستركاركوونكي بايد ډېر صبر او تحمل ولري. تاسي پام وكړئ چي په قرآن كريم كي چي خداىﷻ د انبياووعليهم السلام يادونه كړې ده له هغو څخه زياتو يې د پسونو او وزو چوپاني كړې ده. خپله زموږ داعي اعظم حضرت محمد مصطفیﷺ هم په وړكتوب كي وزې پوولي دي. غالباً په دې كي دا راز او حكمت دی چي وزې او وزګړي كمزوري څاروي دي. كه يوه وزه په يوه سوټي په زوره ووهل سي، نو د هغې ژوندۍ پاته كېدل مشكل دي. د دې ترڅنګ كه هغه خپل سر ته پرېښوول سي، نو هاخوا دې خواته ډېري زياتي منډي وهي. نو كه د ا دواړه حقيقتونه په پام كي ونيول سي او د وزو او وزګړو د رمې په هكله فكر وكړئ. كله چي ډېري وزې او وزګړي يو ځاى وي، نو يوه وزه يوې خواته منډي وهي بله بلي خواته، او چوپان په غوسه سره د سوټي سره په هغو پسې منډي وهي. كله چي يوې وزې ته ور ورسيږي او سوټى پر پورته كړي، نو دستي ده ته دا فكر پيدا كيږي چي د يوه سوټي په وهلو سره د وزې كار خلاصيږي.په دې ډول هغه خپله غوسه تر واک لاندي راولي او په ډېر نرمښت سره هغه د رمې خواته ورولي.په دې توګه چوپان په پلاوو پلاوو خپله غوسه په خپل واک كي راولي او په دې ډول هغه د صبر او زغم سره عادت پيدا كوي. څنګه چي انبياعليهم السلام هم د دعوت،

روزني، اصلاح او تزکيې د سترو دندو تر سره کولو ته کومارل کېدل، ځکه نو غالباً د صبر او زغم او ډول ډول نزاکتونو سره د عادي کېدو لپاره هغو ته د عمر په لومړيو وختونو کي د وزو د پوولـو او چوپانی دنده هم ور په برخه سوې ده. والله اعلم.

له دې څخه څرګندېږي چي تبليغ کوونکي بايد بېړه ونه کړئ، بلکي کار بايد په آرامي او سړه سينه سره تر سره کړي، او که چيري د خپل زيار پايلي ژر تر ژره ورته څرګندي نه سي، نو خوابدی کيږي دي نه، او نه دي نهيلی کيږي، بلکي په هيله دي اوسي او په پرله پسې توګه دي خپل کار او زيار ته ادامه ورکړي.

که داعي د خپل دعوت په وړاندي د کوم چا عناد، حسد، نيت بدي او ضديت ويني او د ده تبليغ او بلنه نه مني، نو متاثر کيږي دي نه. د زړونو د کوم خالق په قدرت کي چي ژوند او مرګ دی، هغه د زړه کينه او مخالفت هم ايسته کولای سي. په حديث شريف کي راغلي دي چي يو سړی د دوږخيانو عملونه تر سره کوي. تر دې اندازې پوري چي د يوې لويشتي په اندازه فاصله د ده او دوږخ تر منځ پاته کيږي. مګر د خدای تعالی تقديرغلبه مومي او هغه د جنتيانو کارونه پيلوي او جنتي کيږي. ښايي دغسي عنادګرهم بالاخره له عناد او ضديته لاس واخلي. بيا نو هيڅکله مه مايوسه کيږئ. او د يو چا په اړه دا هم آسانه خبره نه ده چي په قطعي توګه وويل سي چي هغه عناد کوي. په دې اړه تجربې او ژور بصيرت ته اړتيا ده. البته که چيري کوم څوک دعناد او ځينو نورو مسايلو له مخي د کوم دعوتګر خبري نه مني، بيا هم د ده له دعوت او تبليغ څخه هرومرو نورو ته ګټه رسيږي. ځکه که نور کسان د ضد کوونکي کس غوندي په ناوړه

کار اخته وي او د تبلیغ کوونکي تبلیغ وروړسیږي، نـو د امـر او نهـي حقانیت اغېزه پرکوي او له ناوړه کاره لاس اخلي.

پر دې سربېره دا خبره هـم د یـادولو وړ ده چـي دعـوتګر د خلکـو لخوا د دعوت د قبلولو یا نه قبلولو په اړه هیڅ مسؤولیت نـه لـري. د داعي دنده یوازي تبلیغ او دعوت دی او هغه باید په دې انـد او نیـت وي چي تبلیغ ته اړتیا ده او هر څوني ډېرو خلکو ته چي د خیر کلمـه ورسوم، په هماغه کچه د لوی څښتنﷻ رضا تـر لاسـه کیـږي، او پـه دې لار کي پر کـړاو او مصـیبت بانـدي د زیـات اجـر او ثـواب ژمنـه سوې ده، او دا ټولي خبري رشتیا دي. خو که چیري د دې ټولو خبرو سره سره د دعوت د قبلېدو نېکمرغي هم تر لاسه سي، نو د راتلونکي ګټي سره سره به اوسنۍ ګټه هم تر لاسه سوې وي.مګر اصلي مقصد باید راتلونکې ګټه وي چي هغه هرومرو تر لاسه کیږي. که د دعـوتګر دعوت دلته څوک ونه مني، نو د خالقﷻ د قبلولو ژمنه بالکـل رشـتیا ده. البته یوه خبره ډېره د پاملرني وړ ده او هغه داچي د حـق د خبـري وړاندي کول باید په داسي ډول او په داسي ځـای کـي نـه وي چـي لـه امله یې د ایمان د خاوندانو په نظر کي د حق کلمه سپکه څرګنده سي او هغوی په سپکه ورته وګوري، له دې املـه پـه دعـوت او تبلیـغ کـي ښه او غوره اسلوب غوره کول او موقع پېژندنه زښته زیاتـه اړینـه بالـه سي.

4- د خبرو ښه طرز: د انسان د ژبـي خـوږوالی، د مخاطـب کولـو غوره انداز او د خبرو کولو ښه طرز د هغـه پرمخاطـب بانـدي ډېره ښه اغېزه کوي. که آواز خـوږ او لهجـه خونـدوره وي، نـو تر مخالف لا مخالف کس هم خبره اوري او بې له اغېزي نـه

پاته کیږي. خو د دې پرخلاف که چیري لهجه تنده وي، آواز تریخ او کرخت وي او الفاظ بې خونده وي، نو ان خپلوان لا هم لیري ځني تښتي. ځکه نو داعي ته ښايي چي خپله لهجه خوږه او الفاظ نرم او خوندورکړي. بې له اړتیا پرجوش رانه سي او چیغي و نه وهي. پخپله د رسول اللهﷺ لهجه ډېره نرمه وه او آواز يې نه ډېر لوړ وو او نه ډېرکښته، بلکي د دې دواړو تر منځ وو، او دونه خوږ وو، چي اورېدونکي به بې له اغېزمن کېدو نه پاته کېدی. ام معبدرضي الله عنها په ځونو جامعو الفاظو د رسول اللهﷺ د خبرو طرز بيان کړی دی: «الفاظ يې نه تر اړتيا زيات او نه کم وه. نه يې دونه لنډي خبري کولې چي څوك به نه په پوهېدي او نه يې ډېري اوږدې خبري کولې» (شمائل ترمذی)

د رسول اللهﷺ په آواز کي به د اړتيا سره سم لوړوالی او ټيټ والی وو. په خبرو کي به يې هيڅ ډول تصنع او تکلف نه وو، بلکي خبري به يې په ډېره ساده‌کي سره کولې او موسکا به يې د خبرو سره مله وه.کله چي به يې د خبرو په بهير کي پر کومه خبره باندي ټينګار کاوه، نو به له هغه شي څخه چي تکيه به يې پر کړې وه پورته سو، او سيده به کښېنستی او

هغه خبره به يې وکړه. خاصي خبري به يې په پلاوو پلاوو تکرارولې. د خپلو خبرو د څرګندولو لپاره به يې د لاسونو او ګوتو له اشارو څخه مرسته اخيستل. او د تعجب په وختونو کي به يې ورغوی موښی.

داعي ته ښايي چي د رسول اللهﷺ د خبرو دغه ډول په پام کي ونيسي او کوښښ وکړي چي د هغه مبارك په پيروي د ښو خبرو کولو په صفت متصف وي. په خبره باندي د مخاطبينو د ډېر ښه پوهېدو لپاره يا د کومي خبري په اهميت باندي د هغو د ښه پوهولو لپاره بايد د مخاطب ذهن او فکر په پام کي ونيسي، د خبرو مناسب انداز غوره کړي او که مخاطب په يوه پلا پوه نه سي يا خبره وانه وري، نو خپله خبره دي بيا تکرار کړي او هيڅ دي نه خفه کيږي، او خبره دي بالکل په ډېره نرمي سره کوئ.

5- ښه رويه: د بلونکي لپاره تر ټولو اړينه داده چي د نورو تر روزلو دمخه لومړی خپل ځان ښه تربيه کړي. د ښېګڼو سره د نورو تر عادي کولو دمخه دي لومړی خپل ځان د ښېګڼو سره ښه عادت کړي. له ناوړو عادتونو څخه د نورو تر ژغورلو دمخه لومړی خپل ځان له بدو عادتونو څخه وساتئ. ځکه چي د انسان خپله کړنه د نورو لپاره د هڅوني لامل ګرځي. او ژوره اغېزه باندي کوي. د انسان کړنه او رويه د يوه پټ خولي مبلغ يا مربي حيثيت لري. رسول اللهﷺ چي خپل اصحاب کرام په ځانګړې او غوره روزنه سره روزلي وه په هغې کي تر ټولو ډېره مهمه ونډه د رسول اللهﷺ ښې رويې درلوده.

که د بلونکي په قول او فعل کي تضاد وي نو د هغه ټولي هڅي بې ځايه ځي.خو که د هغه په خبرو او کړنه کي يو شانته والی وي، نو د هغه ډېر معمولي کوښښ هم ډېري ستري پايلي ورکوي.

د خپلي رويې د سمولو طريقه داده چي د کوم خدايي سړي (اهل الله، اهل ذکر، اهل علم، رشتين عارف بالله) سره اړيکي ونيسئ، د

هغه خدمت ته حاضر سئ او د ځان د اصلاح کولو په هکله فکر وکړئ.

د خدايي کسانو (د خدای د دوستانو) سره اړيکي ټينګول، د هغو خدمت ته ډېر ډېر حاضرېدل، د دين د چارو د سمون او د خير او برکت لامل ګرځي.

د لوی څښتن جل جلاله استازي ﷺ فرمايلي دي:

«ألا أدلك على ملاك هذا الأمر الذي تصيب به خير الدنيا والآخرة عليك بمجالس أهل الذکر» (مشكوٰة)

ژباړه: آيا تا ته د دين د ډېر پياوړي کوو نکي شي په هکله ونه وايم، له کوم څخه چي د دين او دنيا دواړو فلاح تر لاسه کيږي؟ دا د الله تعالی د يادوونکو مجلس دی او هغه ته حاضري ورکوه.

د دې خبرې او معلومول هم ډېر مهم او اړين دی چي د خدای جل جلاله دوستان (اهل الله) څوك دي؟ د خدای دوستان د نبوي سنتو رشتيني پيروان او تابعان دي چي لوی څښتن د خپل محبوب پيغمبر ﷺ د امت د لارښووني لپاره نمونه ګرځولي او را استولي دي او په خپل پاك کلام کي يې فرمايلي دي:

﴿قُلْ إِن كُنتُمْ تُحِبُّونَ ٱللَّهَ فَٱتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ ٱللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْۚ وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ۝٣١﴾ [آل عمران: ۳۱].

ژباړه: «(ای پيغمبره! زما سره د ميني او دوستۍ مدعيانوته) ووايه: که تاسي په رشتيا د الله سره مينه لرئ، نو زما متابعت (پيروي) وکړئ، الله به ستاسي سره مينه وکړي او ستاسي ټول ګنهونه به در وبخښي. او الله (د خپلو مسلمانو بنده ګانو د ګنهونو) ډېر ښه بخښونکی او زيات پر مهربان دی».

ځکه نو هغه څوك چي د رسول اللهﷺ بشپړه پيروي کوي هغه په حقيقت کي د خداى تعالىﷻ دوست دى او هغه څوك چي د سنتو له پيروى څخه په هره اندازه ليري وي، هغه له خداىﷻ څخه هم په هغه اندازه ليري وي.

مفسرينو ليکلي دي: څوك چي د خداىﷻ سره د ميني دعوه کوي او د رسول اللهﷺ د سنتو مخالفت وکړي، هغه درواغجن دى. ځکه چي دميني دا قاعده او د عشق دا قانون دى چي څوك د چا سره مينه لري، نو د هغه د کور، د هغه د کور د در او دېوال، د هغه د باغ او ان د هغه د سپي او خره سره لا مينه لري.

ښکه چي داعي او مبلغ نورو ته د خداىﷻ د ميني او محبت بلنه ورکوي، نو لازمه ده چي دا مينه په هغه کي په بشپړه توګه موجوده وي. او د هغه اثر د هغه پر ظاهري جسم باندي هم څرګند وي، ځکه چي شريعت د ظاهري کارونو او د باطن د تزکيې او پاکى نوم دى.

## د امير او مامرينو لپاره څو آداب

رسول اکرمﷺ فرمايلي دي:

«که چيري درې کسان په يوه ځنګله کي اوسيږي، نو پر هغو لازمه ده چي په خپل منځ کي يو امير وټاکي».

ښکه چي په عام حالت داسي حکم وي، نو په ديني چاروکي د دې کار اهميت نور هم ډېر باله سي. بيا ښکه چي په دې پوري ډېر مسايل او د ډېرو خلکو حقوق اړه نيسي، نو شريعت د دې آمريت او ماموريت لپاره ځيني آداب ټاکلي دي.

دلته موږ څو داسي آداب را ټول کړي دي چي په امير او مامور دواړو پوري اړه لري. که چيري د دې آدابو په پام کي نيولو سره کار و سي، نو په جماعت کي به ان شاء الله ناکامي رامنځ ته نه سي او د خدایﷻ مرسته به هم ورسره وي. خدای تعالی دي موږ ته د عمل توفيق را کړي، آمين.

1- د جماعت امير بايد داسي شخص وټاکل سي چي تر ټولو پرهېزګار او له خدایﷻ څخه په بېره کي ترټولو مخته وي. په دين کي د لوی والي معيار نه په مال او شتو سره دی او نه په کورنۍ سره، بلکي په دين کي هغه څوك تر ټولو ډېر غوره دی، چي تر ټولو ډېر له خدایﷻ څخه بېريږي.

2- د امير ټاکل يوه خالصه ديني فريضه وګڼئ او خپله رايه د خدایﷻ امانت وبولئ او يوه داسي چا ته يې ور کړئ چي هغه واقعاً د دې درانه بار د پورته کولو او د هغه د حق د ادا کولو وړ وي. په دې چاره کي پلوي يا بې ځايه روا داري او په دې ډول د نورو عواملو څخه په اغېزمن کېدو سره رايه ورکول خيانت دی، له دې شيانو څخه بايد د مومن لمن پاکه وي.

3- که تاسي د مسلمانانو د جماعت امير وټاکل سئ، نو بايد خپلو فرايضو ته ډېره پاملرنه وکړئ او په ډېر ديانت، زيار، د مسؤوليت په درکولو او هڅو او تپاک سره خپل فرايض سر ته ورسوئ.

نبي اکرمﷺ فرمايلي دي:

«کوم څوک چې د مسلمانانو د ټولنيزو چارو مسؤول وي او دی د هغو سره خيانت وکړي، نو خدای تعالی به پر ده باندي جنت حرام کړي» (بخاری، مسلم)

همداراز يې فرمايلي دي:

«څوک چې د مسلمانانو د ټولنيزو چارو مسؤوليت پر غاړه واخلي بيا د هغو خير خواهي ونه کړي او د هغو د کارونو په تر سره کولو کي ځان داسي ستړی نه کړي، لکه څنګه چې يې د خپلو شخصي اړتياوو لپاره ستړی کوي، نو خدای تعالی به يې پړمخي په دوږخ کي واچوي». (طبراني)

4- د خپلو مامورينو سره په نرمي، مهرباني، انصاف او صبر او زغم سره کړنه کوئ، څو هغوی هم ستاسي سره د زړه له اخلاصه مرسته وکړي او خدای تعالی ستاسي جماعت ته د خپل دين د خدمت توفيق ور کړي.

5- امير بايد د خپلو ملګرو په درنښت او ارزښت پوه سي. د هغو د احساساتو درناوی وکړئ. د هغو په اړتياوو خبر اوسي او د هغو سره بايد داسي ښه او د ورور ګلوئ کړنه وکړي چي هغوی امير د ځان لپاره ترټولو يو ښه اوخيرغوښتونکی دوست وګڼي.

6- امير بايد د خپلو دوستانو قدر وکړي او هغوی دي خپله اصلي پانګه وګڼي او په بشپړ زړه سوي او مينه او محبت سره دې وروزي. داسي دي نه کوي چي که يې خپل کوم ملګری بې وزلی وي، نو له هغه څخه پام هغو کسانو ته واړوي چي لوی ښتن مال او شته او دنيوي شان او شوکت ورکړی وي.

په حقيقت کي د دعوتګري ډلي اصلي پانګه هغه خلك دي چي په ډېره پام لرنه او زيار او تلاښ سره د دين په تبليغ او خپرولو لګيا وي. د جماعت د امير دنده ده چي د دغسي کسانو په اهميت او ارزښت پوه سي او خپله ټوله توجه د هغو روزلو او لا زيات چمتو کولو ته واړوي. او د دې سره سره نورو خلکو ته د ګټي رسولو نيت هم وکړئ.

7- د جماعت ټول مهم کارونه د ملګرو په سلا مشوره تر سره کوئ. او د دوستانو د ښو مشورو څخه په ګټه اخيستني سره د جماعت د کارونو په پر مخ بېولوکي د هغو مينه او شوق نور هم ور زيات کړئ. خدای تعالی د مومنانو يو صفت دا هم بيان کړی دی چي د هغو کارو نه د يو بل په مشوره تر سره کيږي. لوی څښتن فرمايلي دي:

﴿وَأَمْرُهُمْ شُورَىٰ بَيْنَهُمْ﴾ [الشورى: ۳۸].

ژباړه: «او کله چي دوی د کوم کار اراده وکړي، نو د دوی په ټولنه کي د عدل د رامنځ ته کېدو په موخه، بې له دې چي پر دوی باندي يو تن يا يو لږکی (اقليت) له استبداده کار واخلي، په خپلو منځو کي مشوره پرکوي».

رسول الله ﷺ ته دا حکم سوی دی چي په خاصو معاملاتو کي له خپلو ملګرو سره مشوره کوه.لکه څنګه چي لوی څښتن جَلَّالله فرمايلي دي:

﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي ٱلْأَمْرِ﴾ [آل عمران: ۱۵۹].

ژباړه: «او د هغو سره په خاصو خبرو (د دين په هغو مهموچارو کي چي مشورې ته ضرورت لري او د هغو په هکله تاته وحي نه وي استول سوي) مشوره کوه».

8- په ټولنیزو مسایلو کي تل له لوی زړه او ایثار څخه کار اخلئ. خپل ځان ته په هیڅ معامله کي ترجیح مه ورکوئ، بلکي تل د ایثار او فیاضۍ رویه خپله کړئ. څو ستا ملګري د زړه له کومي او په خوشالي سره هري قربانۍ ته حاضرسي، او د کارونو د تر سره کېدو سره یې د میني او علاقې پر ځای بې علاقه ګي او خواتوري پیدا نه سي. یو وخت حضرت ابوبکرﷺ حضرت عمرﷺ ته وفرمایل:

«ای د خطاب زویه! ته ما پر مسلمانانو باندي د دې لپاره امیر وټاکلې چي ته د دوی سره په مهرباني سره ګړنه وکړې. تا د رسول اللهﷺ سره صحبت (ملګرتیا) کړې ده. او تا لیدلي دي چي رسول اللهﷺ به څنګه موږ ته پرخپل ځان او زموږ کورنۍ ته پر خپلي کورنۍ باندي ترجیح ورکول.تر دې چي موږ ته چي به هر څه د هغه له لوري رسېدل، کله چي به له هغو څخه لږ څه پاته کېدل، نو موږ به هغه د رسول اللهﷺ کورنۍ ته د سوغات په توګه لیږل» (کتاب الخراج)

9- له پلوۍ او خپل پالني څخه تل ځان وساتئ او له بې ځایه مړاني او روا دارۍ څخه هم ډډه وکړئ.

10- د جماعت د نظم د هر څه ښه ټینګولو کوښښ وکړئ او هیڅ وخت په دې چارو کي له بې ځایه نرمښت او بې پروایی څخه کار مه اخلئ.

11- د جماعت د ملګرو سره د زړه له کومي محبت وکړئ او دا اړیکي تر نورو ټولو اړیکو زیاتي د درناوي وړ وګڼئ.

12- د جماعت ملګرو ته د نصیحت کولو او د هغو د خیر

غوښتلو په هکله ډېره پاملرنه وکړئ، او يو له بله د تلقين ولولې پيدا کړئ، ځکه چې دغه چارې د بريالیتوب ضمانت باله سي. خدای تعالی د بريالیتوب اصول داسي بيان کړي دي:

﴿وَٱلۡعَصۡرِ ۝١ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ ۝٢ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ ۝٣﴾ [سورة العصر].

ژباړه: «په زمانه قسم چې انسان په حقيقت کي په لوی (لوی هلاکت او) تاوان کي دی. پرته له هغو کسانو چې (پر لوی څښتن) ايمان راوړي او ښه عملونه کوي او يو بل ته په حق د تمسک کولو (او د خدای په طاعت د عمل کولو) نصيحت او (پر دې باندي) د صبر ښوونه (سپارښتنه) کوي».

13- مامورين هم بايد په دې خبره ښه پوه سي چې د جماعت د نظم مراعتول او د خپل امير اطاعت او امر منل مازي يوه قانوني چاره نه ده، بلکي يوه مهمه شرعي خبره هم ده. قرآن کريم د هغو خلکو د ايمان د رشتينولی شاهدي ورکړې ده چې د جماعت د نظم پابند دي او د جماعت کار هغه وخت پرېږدي، چې له خپل امير څخه اجازه ترلاسه کړي.

## په جماعت کي دغو خبرو ته په ځانګړې توګه پاملرنه وکړئ

- له ډېرو خبرو څخه ډډه وکړئ او بې ځايه خندا او مسخرې مه کوئ. په خپل عمل او کړنه سره دا سي مه څرګندوئ چې موږ خپل ژوند په غفلت کي تېروو. خپل ډېر وخت د خدای ﷻ په ذکر او په مطالعه کي يا په پټه خوله تېرکړئ. البته

د ضروري مسائلو په هکله پوښتنه کول هیڅ پروا نه لري.

- د امیر اطاعت د زړه له کومي وکړئ، او له خود رايي څخه هیڅ وخت کار مه اخلئ. کله چي مو کومه خبره، یا مشوره یا د اصلاح کوم ترتیب په ذهن کي دروګرځي، نو هغه خپل امیر ته په ډېر ادب سره څرګند کړئ. د هغه د منلو په هکله ټینګار مه کوئ. که يې امیر ومني، خو ښه، که نه نو د هغه په لارښوونه عمل وکړئ. او په خپله رانه کي څه نیمګړتیا تصور کړئ. مناظرې ته هیڅ مه چمتو کېږئ.
- که بالفرض یو وخت په یوه مسئله کي د رايي اختلاف راسي او د جواز او نه جواز ربړه رامنځ ته سي، نو په دې خبرو کي ګډون مه کوئ. خو پر نورو باندي اعتراض هم مه کوئ. بیا وروسته له یوه ښه محقق عالم څخه د هغې په هکله پوښتنه وکړئ او د هغه د جواب سره سم کړنه وکړئ.
- په مسافر وړونکې وسیله کي د خپل استحقاق څخه زیات ځای مه نیسئ. د مسافر وړونکو ادارو د قوانینو مخالفت مه کوئ. مسافران موټر ته له راتلو څخه مه منع کوئ، بلکي د امکان تر پولي د هغو د آرامتیا او هوسايي د برابرولو هڅه وکړئ.
- که د امیر لخوا تاسي ته د تعلیم او تعلم دنده وسپارل سي، نو په ډېره خوشالي سره يې ومنئ او په بوخت سئ.
- په خبرو اترو کي د امیر په خوله کي مه ورلوېږئ، که یو څوک څه پوښتنه وکړي، نو هغه امیر یا د هغه مرستیال ته چي د دغه کار لپاره ټاکل سوی دی متوجه کړئ.

- تر څو کولای سئ تل په اوداسه اوسئ او د خدایﷻ ذکر ډېر ډېر کوئ.
- امیر په دې پوه کړئ چې تاسي د سفر لپاره څونه پیسې راوړي دي. څو هغه د دې پیسو سره سم انتظام در ته وکړئ.
- که چیري امیر یو ځای مېلمستیا قبوله کړي، نو په خوړلوکي له بې صبرۍ څخه ډډه وکړئ، او د خوړو له اقسامو څخه هغه خواړه خورئ چې د خوند او کیفیت له پلوه تر نورو په ټیټه درجه کي وي او هغه په خوند سره خورئ.
- د امیر له اجازې پرته هیڅ مېلمستیا مه قبلوئ او مه له اجازي پرته
- د یو چا لیدو یا تفریح ته ځئ. لنډه دا چې هر کار چې کوئ اجازه اخلئ.
- له کوم مخلص پرته د بل هیچا مېلمستیا مه قبلوئ. لومړي عذر ورته وکړئ. خو که د دعوت په نه منلو سره خوابدی کېدی، نو یې قبوله کړئ. خو په دې شرائطو چې کوم ځایي لوړپوړی چارواکی به پکښي نه وي، خواړه به ساده وي، یو ډول ترکاري او دال کافي دي، د بل هیڅ شي فرمایش مه ورکوئ.
- د خپلو شیانو او سامانونو په اخیستلو او وړلو کي شرم مه کوئ. بلکي کوښښ وکړئ چې تر خپلو ملګرو زیات کاروکړئ. ترتاسي په کمزوري ملګري باندي بار مه وړئ. همدارنګه دمشر ملګري خدمت د ځان نېکمرغي وګڼئ. او پر خپله هوسایي دملګرو هوسایي مقدمه وبولئ.

14- په جماعتي ژوند کي چي کوم نېك کارونه تر سره کيږي، په هغو کي په اخلاص سره مرسته وکړئ، او هر څه چي کولای سئ مه يې ځني سپموئ.

15- د ملګرو سره ښې اړيکي ټينګې کړئ. کله چي مو د يو چا سره څه اختلاف را منځ ته سي، نو بيرته ژر سوله ور سره وکړئ. او زړه مو له کينې او بغض څخه پاك کړئ. لوی څښتن ﷻ فرمايلي دي:

﴿فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَصۡلِحُواْ ذَاتَ بَيۡنِكُمۡۖ﴾ [الأنفال: ١].

ژباړه: «له خدايه وبيرېږئ (اختلاف او منازعه مه کوئ) او خپل منځي اړيکي سمي کړئ».

16- د جماعت د مسؤول د زړه له کومي اطاعت وکړئ، او د هغه خير غوښتونکي او ورته وفادار اوسئ.

رسول الله ﷺ فرمايلي دي:

«مسلمانانو ته ښايي چي د خپل امير خبري ومني. حکم يې ستاسي پر طبيعت برابر وي که نه وي. خو په دې شرط چي په حکم کي د خدای تعالی د نافرمانۍ خبره نه وي. هو! که د خدای د نافرمانۍ حکم درکړل سي، نو هغه نه بايد واورېدل سي او نه ومنل سي» (بخاری)

17- خپلو ملګرو ته بې مطلبه خدمت وکړئ او د خپل کوم خدمت بدل

له ملګرو څخه مه غواړئ. هر څه چي کوئ يوازي يې د خدای ﷻ د رضا لپاره کوئ. له هغه څخه د خپل اجر او ثواب هيله وکړئ. د خدای تعالی رضا او د خدای ﷻ څخه د اجر او ثواب تقاضا يو

داسي محرك دی چي د انسان په خبرو كي اغېزه پيدا كوي او انسان د تـل لپـاره پـه پرلـه پسـې توګـه بوخـت سـاتي.خدایﷻ تـل ژونـدی اوموجود دی او تل به موجود وي، نه خوب ورځي او نه يې پرېشاني وړي. د هغـه لـه نظـره د بنـده هـيڅ عمـل پـټ نـه دی. هغـه د خپلـو مخلصو بنده ګانو اجر هيڅ نه ضايع كوي. تر زحمت يې زيـات اجـر وركوي او هيڅوك نه بې برخي كوي. انبياووعليهم السلام به هر وخـت خپـل قوم ته فرمايل:

«زه له تاسي څخه د هيڅ اجر يا عوض غوښـتنه نـه كـوم زمـا اجـر خو د رب العالمن پر ذمه دی».

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ وَتُبْ عَلَيْنَا إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ

وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد و على آله وأصحابه أجمعين برحمتك يا أرحم الراحمين.

# د ژباړني نوري ليکني

1- خوندوري کيسې (دکوچنيانو د کيسو ټولګه) په ۱۳۸٦ ل کال خپره سوې ده.
2- د زد ه کړي او ښو و ني آدا ب (ژباړه) په ۱۳۸۸ ل.کال خپره سوې ده.
3- په اسلامي علم او ادب پسوللي ښځي په ۱۳۸۹ ل.کال خپـور سوی دی.
4- د دعوت اصول او آداب، (ژباړه) ۱۳۸۹ل. کال همدغه کتاب دی.
5- د کوچنيانو د لنډو کيسـو دوولـس بېلـي بېلـي رسـالې، ژبـاړي (ناچاپ).
6- په اسلام کي د ښځي حقوق نوي که زاړه؟ (ژباړه)، (ناچاپ).
7- زما ژوند له کفر څخه تر اسلام پوري، ناول (ناچاپ).
8- د کوچنيانو لپاره عبرتناکي قرآني کيسې (ناچاپ).
9- زما د احساساتو انځور، ادبي ټوټې ( ناچاپ).
10- د علم د تر لاسه کولو لارښود (ناچاپ).
11- د ادبي صنايعو قرآني بېلګي (ناچاپ).
12- په زړه پوري کيسې (ناچاپ).
13- پښتو نثر پېژندنه (ناچاپ).